Jan. 5, 1957



پرله پسې کڼه: (٤٢٤)

پورته چهره دپښتون قوم یوه لویه کار نامه (دجانسن انګلیسی افسر سره دپښتنو) ما جرا ښئی چه کابل مجلی ئی درام په مسلسل ډول چاپ کړی دی.

کالی

«ټولو» واغوستل اودبل د پاره.

لنډ ـ او ږده ـ سره ـ شنه ـ تور ـ سپین ....

د مخصوص وخت.... او....هر وخت دپاره

په پور ـ په لاس ـ په گرانه ـ په ارزانه .....

خو: وائی خستل... او .... وائی غوستل

«ټولو» ویاړ په وکړ او ؟!

ټولو ـ ځانونه ـ په همدغسی کالیو ـ لوی ـ دعصر ـ ددربار دزمانی سره برابر وبلل

خو: دافکر ډېر کم وشو چه ـ.....

ولی؟

دځان دنفع ـ دځان دوسع ـ دځان دخوښی دپاره

«ما» په لږو پیسو... یا... ډېرو. اوږده. . . . . یا . . . . . لنډ.

تور. . . . . یا. . . . . سپین.

په پور . . . . . یا. . . . . په نغدو.

په ژوند کښی کالی نه کړل جوړ او.....

ولی؟

د «ټولو» سره تر دی ډول فکر کولو ـ دا تصور ډېر قوی شو ـ چه وائی غوندم اوژر.

دهغه اودغه دخوښی دپاره

نه ؟!

داچه دځان دخوښی ـ نفع ـ او ـ وس دپاره

(ژواك)

(۲۶) کسال

(۲۰) گڼه

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر محمد دین ژواك

پته د محمد جانخان واټ د پخوانی دلیك اصول د ښوونځی ترڅنګه

د تیلفون لمبر (۰۰۰)

ددی گڼی لیکنی او لیکوال

د ۱۳۳۵ هـ کال دجدی (۱۵) د ۱۳۷۶ ق کال دجمادی الثانی (۳) د ۱۹۵۷ ع کال دجنووی (۵)

گڼه	مضمون	لیکونی	مخ
	کالی	ژواك	
۱	د ادب عمومی موثرات	ښاغلی شاه محمد رشاد	۱
۲	جامعه یا دښوا و بدو هیندار ه	« واسعی	۵
۳	ماریاترز	« غ خیبری ترجمه	۸
٤	کله به وی	« نور محمد تره کی	۱۰
۵	قسم	« رشاد قندهاری	۱۲
٦	غزل	« بختانی	۱۳
۷	دالفت نغمه	« محمد صدیق پسرلی	۱٤
۸	دمقبولیت راز	« جاله وان	۱۵
۱۰	په لویه محکمه کښې دخان عبدالصمدخان اڅکزی بیان د ښاغلی سیفی ترجمه		۱۷
۱۱	مونږ	ښاغلی محمد ایوب (اصیل)	۲۵
۱۲	دپښتنو مقابله د سکندر سره	« سپین (تمان)	۲٦
۱۳	راشه	« ښاغلی عبدالصمد	۳۲
۹	پښتو نثر و نه (کتاب)	« مدون اولیکونکی ژواك	۱۷

څیړونکی - ښاغلی شاه محمد (رشاد)

دادب عمومی مؤثرات

ادب دټولو اقسامو او فنونو
او انوا عوسره چه ئی لری دبشری
وګړو دژوند دهندار وڅخه یوه
هنداره بلل کیږی نو لکه
څنګه چه دژوند رنګ د ځنی
عواملو په اثر تغیر مومی او
دعامله وقوانینو پیروی کوی
اوورته غاړه ږدی په ادب کښی
هم رنګا رنګ تغیر پیښیږی
اګر که ددی عواملو احصائیه
خورا مشکل اوزمونږ دتوان
ځنی بهر معلومیږی منګر بیا هم
ځنی لوی لوی ئی دیا دو لووړ
دی ځکه چه دادب د کلمی
حقیقی مفهوم بی لدوی څخه نه
معلومیږی نو په دی مقاله کښی
دادب دمؤثراتو غټ غټ ټکی
ښودل شویدی د «عمومی» توری
ځکه ددی عواملو سره نښلول
شویدی چه داعوامل دهر قوم
اودهر ادب په تغیر کښی
برخه لری.

۱- دټولو عواملو څخه مهم
اولوی مؤثر چه په ادب کښی
تاثیر کوی دوګړو فطری
استعداد دی چه ددی په اثر
ځنی خلك دناز کو خیالاتو او
پوره هوښیاری او دماغی ذکاوت
او دزړه دصفائی څښتن ګرځیدلی
دی دغه رازو ګړی ددغسی استعداد
په اثر د طبیعی او غیر طبیعی
پیښو په لیدلو اورا پیښیدلو سره
متاثر کیږی او ددوی دتاثراتو
پوره نخښی ددوی په شعر یا په
نثر یا په دواړو کښی
ښکاریږی - د دغه فطری
استعداد په اثر ځنی وګړی
چه د پورته اشیاء و څخه یا
بیخی محروم دی او یا ئی
لږ لږی نو په شعر او یا نثر
کښی ئی هم څه خوند ورشی
نه لیدل کیږی وائی چه دغه
استعداد دعربو په قام کښی
زښت ډیرو نو ځکه د دوی
قصائد او اشعار او نثر و نه
زر په زر خپاره شو همدار نګه
په یونانی قامونو کښی
دا استعداد دعربو څخه
هم زیات وو نو یونانی اشعار
او نثر ونه د نورو د پاره
د بنسټ په حیث وپیژندل شوه -

۲ - اقلیم - هغه اقلیمونه
چه خلك په کښی ژوند کوی
دادب په ټولو اقسامو کښی
« دموسیقی په شمول » تاثیر
لری دصحرائی خلکو او دغرنی
قامونو او دسمی دخلکو په ادب
کښی په ښکاره ډول سره تفاوت
موجود دی او دا قلیمونو
دخاصیت په اثر دخلکو په
هر راز مادی او معنوی
ژوند کښی لوی فرق پیدا
کیږی - د دی مدعی
د اثبات د پاره هغه لوی تغیر
چه دعربو په ادب کښی
دا قلیم دبدلیدلو سره
معلومیږی کافی دی کله چه
دعربو خلك بې د جزیرة العرب
څخه بل ځای او اقلیم ته
نه وور اوتلی نو په اشعارو
کښی ئی د صحرا او دډبرو
او داو ښانو صفت لیدل کیږی
کله چه بیا عراق، مصر، اندلس
د دوی لاس ته را غلل نو
د شاعرانو په شعر او دموسیقی

نوازا نوپه مو سیقی او نو رو
ا د بی فنو نو کښی فر ق
ښکار یږی - چه په لږ فکر
سره د ا قلیم تـ ثیر بلکه لا
د اقلیم د اوضا عو ا وحا لا تو
تو پیر ا و تمثیل د ا د ب پـه
دوارو دورو کښی معلو میږ ی
همدارنگه دهغو یونا نیا نود هغه
وخت ادب چه په آسیا کښی ئی
استو کنی کړی دی دهغه ادب سره
چه بیا اروپا ته منتقل شو یدی
خورا سره جلادی.

۳- دمدنی حالاتو او تحولاتو چه
کامونه دیو حـال څخه بل حال ته
اوړی او دهغه په اثر دنوی نظام
او نوی معیشت سره مخامخ کیږی-
ددغه حالاتو اغیزه او هغه تغیرات
چه دقام په مادی ا و معنو ی
ژو ند کښی ئی پیدا کوی دانکار
ورنه دی کنل شوی - ځکه
هغه معانی چه دمد نی خلکو په
فکر کښی کرځی او په ا د ب
کښی دهغی څخه تعبیر کو ی
دهغه معانیو سر ه چه د مد نیت
څخه دلری خلکو په فکر کښی
موجود ی وی ډیر تو پیرلری -
همدا رنگه دمدنی خلکو غرض
اوغا یه په شعر او نثر او نو ر و
ادبي فنو نو کی دوحشی کامونو
د مقصد څخه چه دوی ئی په خپلو
ادبي فنو نو کښی لټوی ډیر سره
فرق لر ی حتی ددوی په الفاظو
کښی چه خپل مقصد د هغه په
وسیله بیا نوی ښکاره فرق موجو د
وی دمثال په ډول دمدنی خلکو
الفاظ لکه ددوی ژو ندنر می
او شیرینی او ناز کی لری او د
و حشی خلکو الفا ظ هم لـکه
ددو ی دنورو حیا تی حا لا تو
غو ندی ځیږه او درا نه معلومیږی
بیا دغه فرق چه دمدنی خلـکو
او دوحشی کـامونو دا د ب په
منځ کښی موجود دی دپو ر ه
مد نی خلـکو ا و نیم مد نی
قامو نو په منځ کښی هم لیدل
کیږی ځکه چه مدنیت هم لو یه
سا حه لری او دمد نیت او چت
آسمان ته ختل ډیری اندرپائی
لری چه باید هغه تول لاند ی شی

٤- د مدنیت په تولو څانگو
کښی چه هر بو پخپل وار سر ه
د کـامونو په ادب کښی تا ثیر
لري یو ه څا نگه د جلا فکر
او تحقیق او یاد و نی دپاره ورد ه
چه دهغی څانگی نوم علم د ی -
دعلم ډیروالی او انکشا ف نه
یوا لحی په ادب باندی خپل اثر
غورځوی بلکه په ا د ب کښی
نوی نوی خوندور شیان اختراع
کوی، او دادب په بڼ کښی
داسی تازه تازه گلان را ښئی
چه دعلم د کموالی په زمانه کښی
دهغی ا ثر هم نه معلو میدی
که رښتیا وو ایو دعلم د تو سعی
په برکت سره ادب تنوع موندلی
ده د تولو څخه علا وه د علم ا و
دادب د تـاثیر او د تاثر تلا زم
دهغه ځای څخه ښه معلومیږی
کله چه علم د ثرو تمندانو او روی
شنا سانو په کورونو کښی و واو
دهغه ځای څخه د باندی نه وو تلی
او دمحدود وخلـکو په لاس کښی
وو نو ادب هم ورسره ارستو کراسی
شکل موندلی وو اما په وروستیو
وختو اکښی یعنی کله علم د تولو
طبقاتو مال و کنل شوا و د نور
خلـکو لاس ته هم ورسید لو ادب
هم د دیمو کراسی صو ر ت پیدا
کړو او دادباء و نوی نهضت په لو یه
پیمانه را ښکاره شو.

٥- دین چه دخلکو دفکری ژو ند
نسبت دی لکه چه دخلکو دژو ندانه
په تولوارخونو کښی اغیزه لری
او ددوی مادی او معنوی شیان د دین

دخم خانی څخه رنګا خلی
همدارنګه دخلکو په ادب حتی
نورو مستظرفه صنائعو کښی لوی
لاس لری — ددین تاثیر
په فنونو او صنائعو کښی
خو په نظر سره دجماعتونو او
کلیساګانو او نورو معابدو او
بتانو په جوړولو کښی ښکاری
جهان دیده خلك وائی هغه زیار
او زحمت چه دمعابدو په ښکلا
کښی په فنی او دقیق صورت
ایستل شویدی تر اوسه پوری
دهیڅ یوه امپراطور داستوګنی
په مانۍ کښی نه لیدل کیږی
نو ددین تاثیر په محسوسو شیانو او
مادی اشیاو کښی چه تر یوه حده
پوری لا ددین دروحیی
سره چندان مناسب هم نه دی
بی له ګفت وشنید څخه دلالت
کوی چه په ادب کښی لا زیات
تاثیر لری ځکه چه ددواړو په
منځ کښی دهرشی څخه زیات
مناسبت موجود دی. هو دادب
په ډګر کښی ډیر فنون دی چه
دین ئی موجد بلل کیږی تمثیلی
ادب (تیاتر) چه دادب د فنونو
څخه یو لوی فن دی دپخوانی
یونان په ابتدا کښی ددین په
اثر میدان ته راووت او
اوسنۍ لوئی ترقۍ ته راورسیده
دیونانی او مسیحی او اسلامی
ادبی تصوف ددینی معتقداتو
پر اساس بنادی حتی په عامیانه
ادب کښی چه دعامو وګړو له
خوا یومیه لیدل کیږی ددین
تاثیر خورا ځلانده برخه لری
دالاڅه چه دزاهدانو دا شعارو
او اقوالو او ددینی مبلغینو
خطبی او موعظو ته بی ددین
څخه بل مور او پلار پیدا کول
ګران کاردی.

٦- دکامونو دسیاسی ژوند اغیزه
ددوی په ادب باندی دلمر
پشان ښکاره معلومیږی کله
چه سیاست دقوة او جباریت په غیږ
کښی نشو ونما موندلی وی
نو ادب خوارکی په تملق او
اسراف لاس پوری کړی دی او
داقتدد څښتنانو دپاره ئی لوئی لوئی
قصیدی او نعتیی ویلی دی کله
چه بیا سیاست دحریت انګازه
پورته کړی ده نو ادباؤ ته هم
دصراحت او دفکر دښکاره
کولو موقع پیدا شویده نو د
کرامت انسانی او دفرد داهمیت
او دمساوات جذبه ئی روزلی ده
که په ځیر او عمیق نظر سره
وکتل شی دادب باغ شامدام
سمسوردی او لکه چه وائی
(لکه ونه مستقیم پخپل مکان یم
که خزان را باندی راشی که بهار)
دادیب په بڼ اوپټی کښی
هیڅکله خزانی وزمی. چه
پانۍ رژوی لاره نه لری ځکه
که سیاست تملق خوښاوه نو د
مدحیه قصید وو ار راځی او
رنګارنګ غزلی او قصیدی،
نشیدی او ترانی په کښی پیدا کیږی
او که سیاست په بل اړخ
واووښت بیا هم دادیب لاس بردی
او دادب په بله صحنه کښی
نوری وسلی لاس ته ورځی په
دی حساب په هر راز سیاست
کښی دادب یو اړخ میدان ته
اوزی او روزل کیږی (البته
داټولی خبری په اکثریت
باندی بنادی)

٧- دکامونو رابطه او
اختلاط کله چه کامونه سره
جلاوونو دهر کام ادب هم
ځانته وو اما کله چه ئی سره
اختلاط پیدا کړو او سره
نژدی شول نو په ادب کښی

نوی رنگ پیدا شو او د
تقلید دروازه دهر قام په
مخ باندی پرانیتل شوه د دی
نزدیکت په اثر ځنی ادبی
فنون منځ ته راغلل چه
پخوائی اثرهم نه راښکاره
کیده هر کله چه دا تاثیر
ورځ په ورځ ډیر یږی او د
دنیا وګړی سره دنژدی کیدو
په حال کښی دی نو د قومی
ادب ځانته ساتل خورا
مشکل کار دی او څه
ضرورت هم ورته نه معلومیږی
البته د تاریخ له نقطی نظر
څخه د قام د ادبی تحولاتو
په لړ کښی جلاجلا خصوصیات
بیانول او د هغه آثار سره
بیلول اهمیت لری - که د قومی
امتیاز اتولمن راتوله شی لکه
چه اوس ځینی شرقی خلك
د لباس له حیثه د غربی خلکو
سره په یوشان بریښی د شرق
او د غرب ادب به هم سره
مخلوط شی البته هغه مرحله
لا تر اوسه ډیره لری ده او
ادیبان ئی هم د خپل امتیاز

د ساتنی له پاره کوښښ کوی
چه سره جدا وی بلکه لا په
علمی دلائلو سره زورلګوی
چه دا بیلوالی دائمی حتی
ضروری ثابت کړی- هودومره
خبره دمنلو وړ ده چه دا ادب په
عمومی مؤثراتو کښی د کامونو
داختلاط یو جزء دی چه شپږ
اجزاء نور په کښی موجود دی
نو په دی حساب سره د شرقی
او غربی دادب پوره یو والی
ترهغه پوری نشی کیدی چه
دا اوه عوامل سره یو نشی- ددی
څیړنی باعث په ما باندی هغه
ځنی خبری دی چه د ملی
موسیقی په شاوخوا یاد غربی
ادب تر عنوان لاندی
ویل کیږی .. او ځنی خلك
داسی نظریه لری چه غربی
موسیقی یا غربی ادب هم لکه
غربی پوښاك رواج و مومی او
دهغه پیروی وشی، او ځنی نور
وائی چه ملی او محیطی
موسیقی، ملی او محیطی
ادب تقویه کړو، دا خبره

هم دنه هیرولو وړ ده چه
موسیقی دادب د فنونو په
جمله کښی شمیرل شویده او
دادب د مؤثراتو تر تاثیر
لاندی حتما راتلونکی ده -
هود موسیقی علم که دموسیقی
او آهنګونو له لیاری څخه
پیداشوی وی او لکه صرف او نحو
چه د تتبع او استقراء او د
کلماتو او جملو د استعمال
څخه جوړ شویدی د موسیقی
علم هم د آهنګونو څخه
میدان ته راغلی وی او
وروسته ورته پرنسیبونه او
اصول تعین شوی وی بیانو
موسیقی لا څه چه د موسیقی
علم هم د دغه (۷) شیانو
تر تاثیر لاندی راځی او
د دی عواملو په تغیر سره
تغیر مومی . زما په عقیده
د موسیقی علم داسی ندی
لکه چه ۲×۲=٤ کیږی چه په
غرب او شرق کښی یوشان تطبیق
شی- داوه زما نظریه د نور وحوښه

ښاغلی واسعی

جامعه یا دښو او بدو هینداره

سر بېره پر دی چه موږ دښو او بد
دمکافات او مجازات عقیده لرو چه
پر ښو به مکافات او پر بدو
به مجازات و. ینو مگر دلته په
دنیا کی هم دهر سړی او دهر چا
کار او کردار ته یوه هینداره
پرته ده چه ښه او بد جایز او ناجایز
پاك او ناپاك اعمال او افعال
بلکه اقوال او ویناوی ئې ټوله
په واضح ډول او روښانه شکل
پکښی ښکاره کیږی او انعکاس
پکښی مومی.

داهینداره چه خور اصافه
او ستره او ډېره روښانه او هر شی
پخپله اصلی بڼه او شکل پکښی
ښکاری او هیڅ تغیر نه ور کوی
جامعه او ټولنه او محیط دی
محیط داعمالو او افعالو داسی
هینداره او ښکارندو یه ده چه
د هیڅ فر دهیڅ نه ځنی پاتېږی
او نه ځنی پوتیږی ښه ئی ښه
ښکاره کوی او بدؤ کر غېړن
ئی بد څرگندوی. داهینداره
دنورو هیندارو غوندی نده چه
شی له خپله اصلی شکله څخه
اروی او تغیر ور کوی ژېړمخ
سپین یا وچه بی غو ښو چهره
چاغه او برجسته ښکاره کړی
یا یو بې کاره او معمولی شی
غټ ارا نلارج کړی یه دا دهر شی
اصلی حقیقت او ماهیت یعنی
هر شی چه هر راز وی هغسی بی
کم و کاسته څخه ښکاره کوی.

جامعه هینداره ده مگر
خاصیت او طبیعت ئی دنورو
هیندارو څخه مخالف دی،
په نورو هیندارو کی چه سړی
دکتلو او ځان لیدلو اراده
وکړی او وروائی خلی او مخ
ته ئی و نیسی نو پکښی معلوم شی
او ځان پکښی و وینی مگر
داهینداره اراده نه غواړی او د
وراخیستلو شرط پکښی لازم ندی
که څوك غواړی که نه غواړی
که ئی ورواخلی که ئی نه
ورو اخلی دهر چا چهره او سکه
پکښی معلومیږی او داسی پکښی
معلومه سی چه هلته پکښی پاته
او داسی پکښی ثبت او قید شی
چه بیا لری کېدل او محوه کېدل
تر ډېره پوری نه وی ممکن
په قرنو قرنو او پېړیو پېړیو ئی
نقش او عکس پر موجود وی
حك او تراش نه قبلوی او نه
دچا دطاقت او قدرته څخه دا پوره
وی چه ځنی محوه دی کړی.

پدې هیندا زه کی قدرت
او خلقت یو فوق العاده خاصیت
او مخصوص طبیعت ایښی دی چه
دهغه په اثر مرگ او ژوند
دواړه ددې مولود دی، او دا ژوند
او مرگ دغه معروف او متعارف
مرگ و ژوند چه موږ ؤ تاسی ئې
پېژنوندی، داهینداره ژوندی
وژنی کوم ژوندی؟ هغه ژوندی
چه اعمال او افعال یا خبری
او ویناوی ئی منفی او دجامعې
دا فرادو د تباهۍ او مرگ
موجبات را غونډوی.

وژنی ئی داسی ئی، وژنی چه په
ژوند ئی وژنی په ژوند وژل دې
ته وائی چه نوم ئې وربد کړی په
خولو کی ولویږی هر څوك ئی
بدبولی په نفرت ورته گوری
منفور واقع سی دنامه څخه ئی

اشمئزاز او کرکه کیږی نو دې حالت ته باید جامعوی مرګ یا په ژوند مرګ وویل شی، په اسلام کی ددې دپاره چه د مسلمانانو اخلاقی تصفیه حاصله شی، او نفسی اصلاحات تر نظر لاندی نیولی او تل ئی مراعات او ملاحظه دهر مسلمان او صالح سړی له خوا شوې وی یوه مهمه توصیه صادره شوې او په یوه غرا عبارت «موتوا قبل ان تموتوا» تعبیر ځنی شویدی.

مګر دغه جامعوی ژوندی مړی په ژوند خپل ځان وژلی دی خو نه شهید دی نه غازی او نه دچا پر خوله «خدای دې و بخښی» ور ته راځی دی په ژوندی وجود اور ونو ستر ګو او ښورنده بدن مړ دی خو داسی نه چه نبوی هدایت ئی پر ځای کړیدی بلکه شقاوت او بدمرغی ئې په پېڅه شوی او په ژوند مړ شویدی.

ددې په مقابل کی بیا هغه بل مړ دی چه جامعې ژوندی کړیدی هره ګړی دجامعی په زړه په دماغ په فکر په اندېښنه کی وی نوم ئې په ښو اخلی دپښتنو خبره «خوله پر منځی بیا ئی نوم اخلی» په ښو ئی یاد وی، په ښو ئی ستا ئی روح ته ئی مغفرت او بخښنه غواړی، او دهغه نخښی او آثار، اعمال، تر شا پا ته باقیات ئی تقدیر کوی ستائی ئې په احترام او تجلیل ور ته ګوری.

داد واړه دجامعې دهینداری وانمود دی، هغه چهره هغسی، او هغه هغسی څرګنده وی، دهر سړی دژوند سوانح او دخولی ویناوی ئې ساتی د تلویزیون غوندی ئی محافظه کوی او راتلونکو پېړیو آینده نسلونو، وروستنیو اخلافو، او دمستقبل اجیالو ته ئې ټکی په ټکې او په زېر او زور ور ښیء، او دسینما دفلمونو په دو دئې ننداره ور کوی چه دصالحو او سپېڅلو افرادو دکارنامو آفرین او تحسین وویل شی تمجید او تقدیر ئی وشی او په ترڅ کی ئې آینده نسل داعمالو او کارنامو تتبع وکړی ددوی دنبوغ او ښه نامه ؤ شهرت شرایط ځان لره حاصل کړی او دتورو اعمالو او ناخوښه او کرغېړنو چارو دڅښتنانو افعال او اقوال بیا وغندل شی تقبیح ئی وشی، کرکه ځنی وشی، ستوخ او ترخه ؤ خوا ګرزن وبلل شی، اشمئزاز و نفرت ځنی ښکاره شی، ژغورنه او پناه ځنی وغوښتل شی، او بالاخر د دغو منفی اعمالو او د جامعی ورانونکو او خوارو ونکی افرادو نفرین او تلعین ور ته وکړه شی. نو باید سړی وو ائی چه هغه که مړ وی مړ ندی بلکه ژوندی دی، او دا که ژوند دی، ژوندی ندی بلکه مړ دی دمړو په شمیر کی دې ځکه چه نوم ئې نه یوازی په ښو نه پادیږی بلکه په بدی یادیږی ځکه نو هغه مړ ژوندی او دا ژوندی مړ بولو.

نو څوک چه په جامعه کی ژوند کوی او د جامعې دهیئت ځان غړی بولې باید په ډېر احتیاط او په خورا ملاحظه او مراعات لاس او خوله وښوروی، او خپل هر حرکت او سکون پخپل واک ولرې، هر څه ئې په اراده وې او اراده ئې د صحیح وجدان او بې آلایشه او سپېڅلی ضمیر په

فتوی او مشوره وې، لکه
عبد الرحمن د پښتو عارف
شاعر چه وائی:
(دلته دم او قدم د واړه په
شمار دی) لاس او پښه خوله ؤ
خبره او هرڅه کنترول غواړی
او د یوه صحیح سړی د پاره
دا انضباط او کنترول ضروري
او لازمی بلل کیږی.

د جامعې هنداره سخته
حساسه او د ومره ئی دانعکاس
قوه ډیره ده چه ترپرده لاندې
چهره هم پکښی معلومیږي او
هغه مخو نه چه په بله بڼه شوی
وې بل پوست ئی پرغوړولی
وې دا سې په کښی ځلیږی
چه پرده او بله پردی بڼه یا
پوستکی چه پرغوړول شوی وې
ځنی لیری شوې او حقیقی
چهره دورا برملا او برمنډ
د هر ماسک او پردې څخه
لڅ پکښی ښکاری، څوک
چه غواړی د جامعې د هنداري
څخه ځان په پرده کاندی
او دا هینداره خطا باسی خپل.
مخ د ماسک پواسطه ځنی
پټ کړی د اغوښتنه ئې غلطه
او خطا ده د ده داهیله به نشي
ترسره او اصلی څهره به ئی
لدې رشتیاو یو نکی هینداري
څخه پټ او په پرده کی پاته
نشي او نه ئې دا ارمان ترسره
شي. هود و مره به و شی چه
دیوې محدودی مدې د پاره
به د ځینو اجتماعی او محیطی
عواملو پواسطه دا ترپرده
لاندی او ماسک سوی څهره
ترپرده لاندی پاته شی خو
وروسته به خوراژ را وبه
صافی او خوړی ؤخیرې به
تل شي حقیقیی څهره به دلمر
او سپینی روځی غوندې
څرګنده شی.

نو اوس د هر چا خپله
خوښه او زړه دی چه هر څه
کوی ودی کړی او کومه خوا
چه ئی خوښه وی پر هغه دې
ولاړ شي، دا هینداره د هر چا
مخ ته پرته او که څوک
غواړی که نه غواړی هر څه ئې
پکښی څرګند یدای شی، او
لکه موږ چه د مخه وویل
د همیشه او تل د پاره ئې
را تلونکو نسلونو ته محفوظه
ساتی.

دا هینداره څه مراعات
او کوم خوف او خطر د چا څخه
نلری لکه نورې هینداري
نه ماتیږي او نه چپه ایښول
کیږی، که څوک د ښه
چانس او طالع څښتن وې ښه
څهره او سپین مخ به ئی
پکښی څرګند او محفوظ
پاته وې، او د بد قسمته او
بدمرغه منفوره څهره به هم
پکښی ساتلې وې مګر
ذخجالت او تنفر سره جوړه!!!

لیکونکی: ښاغلی جاله وان

د امید شمع

آیا تاسو داسی څوك پیژنی دچا په ژوند کښی چه دمایوسی اوزړه ماتی توري او گوري وریځی خوری شوی نه وی - دچا دژوند گلستان چه دامید په رنگینو گلانو ښائسته او آباد وی څوك چه دژوند کولو په چل او هنر پوهیږی - داسی سړی سره په لید و کتو بنده څو مره خوشالیږی !!

هغه امید چه انسان ته ور کړی شوی دخدای تعالی دټولو بخښښونه لوی بخشش او یو ډیر لوی انعام دی - دامید غوندې گټور او قوی ټکی شاید چه په لغت کښی ونه موندی شی -

امید دژوند او زندگي دپاره دټولو نه لوی طاقت دی -

امید دناکامی نه بنده بچ ساتی - دامید رڼا په ژوند کښی دمایوسی اوزړه ماتی توری تیاری ورننوتو ته نه پریږدی - او څه وخت چه دژوند په ماڼی کښی دامید شمع مړه شی - نو دغه ماڼی بیا تورتم شی -

په دې وجه پخپل ژوند کښی دامید شمع مړه کیدو ته مه پریږدی - او نور خو نور چه دحالاتو او حوادثو په طوفانی - سیلی او جگړو کښی درنه هم دامید شمع مړه نه شی -

ښاغلی غ. غوث «خیبری»

ماریا ترز

۱۷۱۷-۱۷۸۰

د «هابیورگ» کورنۍ دلومړی او دلف نه وروسته چه دپاچاهۍ تخت ته ورسیده او د المان شاهی تاج ئی په خو ټولو نه اهم او دهمیشگی نوم خاونده هماغه نامتو او مهربانه ملکه ماریا ترزوه.

ماریا ترز څو سوه کاله دزبردست او دلف نه وروسته دپاچاهۍ تاج په سر کړو او بیائی دهغه نه څو څو واری لوی او غټ کارونه او خدمتونه وکړه، ته به وائی چه دازل نه هغه دهمدی غټو او مهمو کارونو دپاره پیدا شوی وه.

ماریا ترز یوه مهربانه ملکه وه، یوه مهربانه او زهیره مور وه، یوه دعاطفی او نرم زړه خاونده ښځه وه، او ددې ټولو دپاسه دښایست یوه روښانه سپوږمۍ وه په علم عاشقه او د عالمانو او دپوهانو همدرده او غم شریکه وه، او د همدې نامتو ښځی په زمانه کی وه چه دموسیقی زبردست او مشهور استاذ او هنرمند

«موزارت» پیدا شو چه تر نن ورځی پوری ئی دساز او موسیقی عالمګیر شهرت دنیا لرز ی.

ماریاترز ۲۳ کلنه وه چه په تخت کښېناسته، او سم د کیناستو سره ځینو ګوانډیانو خیال وکړو چه دا خامه او نابلده ښایسته ښځه به څه ونشی کړی نو زور او فشار ئی پری ولګاوه او د تولو نه زیات شمالی ګوانډیانو دی زور ته پښې ورته کړی .. فریدریک کبیر خو میاشتی مخ کی دهغه نه سلطنت کاوه او څه نه څه تقریباً څلویښت کاله د دی میړنی ښځی یو خطرناك رقیب شمیرل کېدو ...

فریدریك سره لدی چه ماریائی خپله غټه دو ښمنه ګڼله خو بیائی هم دهغه دلوړ شخصیت اوستر اخلاق اوژور فکرو نو احترام او قدر کولو او ویلی ئی چه ماریاترز د د نیاد ممتازو اوزبردستو ښځو څخه ده او په هرشی کی نبوغ لري.

او ه (۷) کلن جنګو نه په موفقیت پای ته ور سیدل او ماریا دیوی قیصری او دملك او خلکو دمهربانی مور په حیث د مملکت کارونه په لاس کی و نیول او بیائی په ډېرښه مهارت هغه تنظیم او سم کړل، کار او صنعت د ترقی او پیشرفت

دپاره ئی لوی لوی پلانونه جوړ کړل،

ماریاترز ۱۹ کلنه وه چه داستیفان سره ئی واده وکړه او بیا ئی ترهغی اندازی پوری کوښښ وکړ چه استیفان دالمان دقیصر په حیث وتاکل شو: او د دې دپاره چه خلك دی فعالیتو نو ته ګوته ونه نیسی نو د خپل میړه استیفان د تاج پوشی مراسمو ته هم ورنغله.

(پاتی په ۱۰ مخ کی)

ښاغلی نور محمد تره کی

کله به وی.....!

هغه ورځ چه: لوږه ، بر بنډ توب په انسانانو کښی وجود ونه لری! لوږه څوک نه پیژنی او هر څوک چه هر څه ضرورت لری هغه په آسانی او هوسائی سره لاس ته راوړلای شی او څه چه ئی د لاسه کیږی د ټولنی د سعادت او د انسانانو د راحت دپاره ئې بیله وې چه پر ځان ئې پیټی او تکلیف احساس کړی په ځای کړی! هغه ورځ چه: د ظلم او استبداد د ناروا او حق تیری کمبله بشپړه نوله شی او د هیچا زړه د بل چا له لاس څخه آزار نشی او نه د اسی لاس وجود ولری چه بل چا ته دی ضرور سوی که چیری څوک دا فکر او هڅه کوی د ټولنی قوانین ئی د اډول بې اغیزې کړې لکه څوک چه تندی په لوی کاڼی وهی!

هغه ورځ چه: بو د بل د سر څخه لاس وا خلی هیڅوک دې ته زړه نشی ښه کولای چه د بل چا په حساب ژوندو کړی. هیڅوک د بل له لاس نه گوله نه زغلوی او لکه د ژوری غوندی د بل چا په وینو او غوښو ئې گذاره نه وی ...!

هغه ورځ چه: د سیسه سازۍ ورکی شی. یو د بل د پښو خاوری نه سره کاږی یو بل په اور کښی نه سره اړوی! خپل بری د بل چا په کمینی ښی نه لټوی. تل موقع ولری چه د هر چا په نسبت د مینی او محبت فکر وروزلای شی!

هغه ورځ چه: اقتصادی مساوات او اجتماعی یو والی بشپړ تامین شی او د هغو لیوانو مونگلی چه د انسان په بڼه کښی ئې د نورو انسانانو په ښار گو کښی ښخی کړی دی او هیڅوک دې ته نه پریږدی چه طبیعی ژوندو کړی و کښلی شی!

هغه ورځ چه: د اقتصادی سوئې د لوړوالی او کفایت په اثر دروغ ویلو او چم چمو جوړولو ته هیڅ ضرورت پاتی نشی. هر څوک بشپړ فرصت ولری چه د ځان د تکمیل او انکشاف دپاره په خپلو اکه صورت سره اقدام وکړی او دا تکمیل او انکشاف ئې د یوې کار کونکی ټولنی د سعادت او آرامی دپاره وی نه د نورو د بربنډه ولو دپاره!

هغه ورځ چه: د ټولو حرکت او فعالیت د یوه یا دو وکسو د سعادت او آرامۍ دپاره نه وی او د ملیونو خلکو ثمر او خوله

(د ۹ مخ پاتی)

ماری په (۲۹) کالو کښی چه د استیفان سره ئی واده کړی ؤ ۱۶ ځامن ئې د نیا ته راوړل مارت په کور کی د اسی مهربانه موروه چه نورو میند و به د هغه حسرت خوړو ، په ۳۹ کالو موده کی ئی یوه ورځ هم د استیفان سره څه لاندی باندی رانغی او نه کومه ورځ څه خفگان د هغوی په منځ کی راغی. دژوند په آخری ورځو کی د یوی عادی ښځی په شان وه کالی او جامی به ئی خپله گندلی. او خپله به ئی د زامنو ، میړه او خپلو جامو پیوندونه اچول او ترنن ورځی پوری ئی آثار په موزو او نورو کی لیدل کیږی. «پای»

دخوتنودعیش عشرت اوسرلوری دپاره مصرف نشی بلکه دتولو زحمت دتولو د ښیګڼی د پاره وی !!

هغه ورځ چه : یوه فعاله او پاکه تولنه موجوده شی اودهغی په سعادت کښی هر څوك نروی که ښځه موثره برخه واخستلای شی او هر څوك مساوی موقع ولری چه دهغي په تعمیر اوارتقاء کښی بیله کوم موانع نه مرسته وکړای شی

هغه ورځ چه : دخدمت او زحمت ایستلو په نامه خلك نه غولول کیږی اوپه دې پلمه اوتر دې پر دې لاندی د دوی اقتصادی ، اجتماعی او سیاسی حقوق تر پښو نه لاندی کول کیږی اویا په دې نامه دعامه ؤدا سعادت ترځان نه قربانول کیږی!

هغه ورځ چه : پوهنه او معرفت عام شی اوهیڅوك بیسواده او ناخوانه پاتی نشی .په هر کوټ کښی هلکان او نجنکی په مساوی ډول له معرفت څخه برخو رداره وی . داستثمار په خاطر څوك بې تعلیمه نه پر ښودل کیږی .

هغه ورځ چه: دنړی له تولو ملکو څخه داخلی او خارجی استعمار اواستثمار بیخی ورك شی او ټول کار کوونکی په آزاد صورت سره ددې دپاره واك اواختیار ولری چه دانړی په خپل زحمت ودانه کړی او دهغه دودانی ثمر دعامه ؤدمفاد دپاره وی نه ددې اودهغه دپاره !!

هغه ورځ چه : دنړی ټول خلك دو روری لاسو نه سره ور کړی او په موثر ډول سره ټول هغه عوامل او منابع چه داستثمار کولو،ظلم کولو ، اود خلکو له بدبختیو سره اړه لری بیخی ویجاړی کړی اوپه ځای ئې بې آلایشه منابع چه دتولو په ګټه او هوسائی وی ودروی ! .

نوزنده باد هغه ورځ اوپاینده باد دغه ډول نیکمرغه اوپه زړه پوری ساعت ! !. ددې ورځی دراتلو او یا راوستلو دپاره ډیری مساعی اوقربانی په کار دی داورځ هرومرو راتلونکې ده ! خو که دنړی ځلمیان په موثر ډول برخه پکښی واخلی هغه به ژر راشی اوژر به دافلاکت وهلی اواستثمار ځپلی انسانان له زحمت اوتکلیف نه خلاص شی اودتیار خورو اوخودخواه انسانانو لاسو نه به دتولنی له مړی نه لنډ کړل شی!! نودطفیلی او اواستثماری عناصرو پر خلاف لاس یو کول په کار دی !!.

ښاغلی رشاد قندهاری :

قسم

په سوو کرږو د فقیرانو — په تورو تپود مسکینانو

په پټو لوږو د کونډو رنډو — په مړامو او ښکو د یتیمانو

په سړو، آهو داسکیر لو — په څیرو گرا لبو دسیه گانو

په لڅو خېټو دپر کټیو — په یبلو پوندو د بیکسانو

په بد ور ځو دافتاده ؤ — په تشو لا سود نا توانو

په سختو ژمو دبې توښه ؤ — په وږو گېډو د بېوزلانو

په وچو شونډو دپوره وړو — په کښزوغاړو د محتاجانو

په کښتو ستر گود در دمانده ؤ — په ماتو زامو د عاجزانو

په سوو ساؤ د کاریگرو — په ستړو تلو دمزدورانو

په ډکو زړونو دارمانجنو — په ماتو خوا ودمحرومانو

ستا سو قسم وه، په دولت مستو

لږ رحم و کړیء، پرغریبانو



ادبی

ښاغلی بختانی

غزل

هېڅ ایسار ېدې نه شم پردو کښې زه
تنگ شو لومه تنگ په نا کردو کښې زه

زړه مې چه څه غواړی هغه نه مومی
ډېرئی ناقرار کړم په غوښتو کښې زه

گل چه پکښې نه شی دارمان غوټۍ
څنگه به خندا کړم پسرلو کښې زه

داچه په خو گلن کښې مې مقام کړی
سره بڅری گورم په ایرو کښې زه

ما بدله کړی خپله ژبه وای
څه کړم چه گیر شوی یم پښتو کښې زه

نشته پخوانۍ پښتنی ستر گې اوس
څو مره چه لټون کوم ژوندو کښې زه

چیرته به ئی مومم چه ئی نه مومم
گرځم په دېرو او په حجرو کښې زه

مینه بازاری ډېره ارزانه شوه
پټ به شم په شاړو په میرو کښې زه

داچه سړیتوب په ما خندا کوی
نه یم بختانیه په سړو کښې زه

ښاغلی محمد صدیق پسرلی

دالفت نغمه

د عشا قو زمزمه یم — د خوبانو کرشمه یم
چه پیغام وړی د درد منو — د سحر هغه وزمه یم
چه پکښې اوسی مضمونو نه — هاغژ دی، هغه خیمه یم
په نرمي سوری کوم زړو نه — نه سکنه یم، نه برمه یم
مو ثره یمه ځکه — چه دسوی زړه نغمه یم
که می غواړی پژندل شه — دالفت شعر و خامه یم
ترجمه یم د غزلو — د بلبلو هم د ګلو
یو بوستان یم د ګلونو — یو جهان یم د رنګونو
جام جم یم د ګټ سره — له اسرار وله کیفونو
آئینه د سکندر یم — کنبیخه یم د فکرونو
د پښتو غوره ادب یم — خزینه یم دشعر و نو
د رحمن دزړه مرادیم — د خوشحال له ارمانونو
هنګامه د پښتنو الی — سرتاپه د ولسونو
له حمیداو له شیدانه — هم خوږه یم هم روانه

ښاغلی ع، «پرهیز»

اور دزړه

که څه مینه کې مې وسوکور دزړه — خو یم خوش چه می تازه وی اور دزړه
زړه مې ستر کو په لارو رک دې نه پوهیږم — چه څوک وینمه غل په تور د زړه
وائی لار د عشق دزړه په زور واهه شی — زه به پور غواړمه چا نه زور د زړه
دخود کامو په هوامی زړه او به شوه — ای صیاد ه څله څیړ ی شور دزړه
زړه می غواړی چه دیدن بیا دیارو کړه — ستر ګی پټی منی کله نورد زړه

چه دمینې هپه راغله «پرهیز» مات شو
پرغمل ئی ورنه واخست سپور دزړه

ښاغلی جاله وان :

د مقبولیت راز

دادهر هر انسان یوبنیادی اوفطری خواهش دی- چه هغه دې دهرچا خوښ وی- هرڅوك دی ورته دعزت او احترام په درنه ستر که ګوری-دا جذبه دهرسړی دزړه په ژوروالی کښی په یو یا بل شکل کښی ضرور پټه پرته وی -

په انګریزی کښی د «ولی لومان» نوم یو سوداګر کسه ډیره مشهوره ده او هغه داسی چه د بدبختی په وجه دې د ې خواهش اوارمان لیونی کړی وه چه خلك دې دده د ښا ئسیت ستا ئینه او تعریف کوی - دا سود اګر په دی تلوسه کښی داسی نا کراره وو - چه بعضی وخت به ئی دحقائقو دمنلو نه هم انکار و کړو- په دې جدوجهد کښی لومان خپل هرڅه بایلل- خپل کاروبار- دښځی اوزوزاد مینه - او حتی داچه خپل خوږ وجود اوژوندئی هم ددې جذبې دسره زار کړل -

که تاسو غور و کړیء -نو په دې ماملـه کښی به په مونږ کښی هریو لږ یا ډیر خپل ځان لومان محسوس کړی- ولی که رشتیا تپوس و کړې- نو په فطری لحاظ داقسم خواهش څه ګناه هم نه ده «ولیم جیمس» چه د نفسیا تو یو نومیالی ماهر دی په دا که اوجار وائی :-«چه د خلـکو دا جذبه چه هغوی دې دهر چاخوښ وی- هرڅوك دې ورته داحترام اودرناوی په ستر که ګوری - دادانسانی فطرت په ډیروژورو جذباتو کښی یو جذبه ده »

داخواهش چه خلك دی ستاسو قدر اوعزت کوی -دمینی محبت او احترام په نظر دی در ته ګوری - چونکه دا یو فطری او بنیادی خواهش دی .

نوبیا داسوال ډیراهمیت را پیدا کوی -چه تاسو دې داسی طریقی اولاري اختیار کړیء- د کوم په برکت چه دخلـکو په ستر کو تاسو ښه لګیء -او تاسو سره دلومان غوندی توقه و نه شی.

ددې د پاره د ټولو نه اول خواهش دادی- چه دخپل ځان هیرولو کوشش کول پکار دی- دا ځکه چه خو د پسند ی د کامیابی په لار کښی د ټولو نه لوې خنډ دی- که تاسو پخپل خیالاتو کښی خپل ځان او هستی له هر چا نه وړاندې وساته - اوستاسو کړوړو- ناسته پاسته ګفتارو کردار کښی د اجذبه غالبه پاتې شوه- نوخلـک به ډیر زړه تاسو یوه شی- کوم سړی چه همیش خپل ځان و ینی - اوهروخت ئې تش خپل ځان ته پام او پکروی - هغه د نورو خلـکو ډیر کم خوښ وی

داسی سړی په خلـکو کښی دانانیت پسند- مغروراوزودرنج په نوم مشهور شی. او هر څوك تر نه د لری تښتید و کوشش کوی -

ددې نه پس تاسو ته دا کوشش په کار دی- چه نور و خلـکو سره په اخلاص د زړه له کومی صداقت اوخوږ ه مینه کو یء دهغوی په خوند ه ور و صفتو نو

کښې دلچسپي اخلیء - دا ځکه چه «ول راجرس» پخپله زمانه کښې په امریکه کښې دهر چا نه زیات مقبول او هر دل عزیز سړی وو دهغه داوینا دسروز رو په ټکو دلیکلو چو گه ده «ما دیو داسی سړی سره چری هم ناسته پاسته او لیدل کتل کړی نه دی څوك چه ځما په ستر گو او زړه ښه لگیدلی نه دي «ول راجرس» دهر چا خوښ وو او ده سره به چا داسی په روڼ تندی علیك سلیك او راشه درشه کول لکه دنمر په رڼا کښې چه د گلانو غوټې پر انستی شی کیدي شی چه بعضی و خت په دې مهم کښې څه مشکلات تاسو ته رادو څارشی ولی بیا به هم دا داسی مشکلات نه وی چه هډو څه قابو پرې راتلی نه شی، دهر یو سړی څه ناڅه ښکلی صفتو نه مالومیدی او دهغو په بنا ورسره مینه او محبت کیدی شی —

څه وخت چه تاسو د خلکو سره دمینی طریقه اولار مالومه کړه نو په دی لار دویم قدم به دا وی — چه دنورو خلکو د کومك کو لو کو شش را واخلیء — او دهغوی بهترین قابلیت ډاگ میدان ته را او باسی — «هنری فورډ» ددې اصول دصداقت نه ښه خبر وو — یو ځل دی په یو هوټل کښې ناست وو — چه خلکو ترې نه دا تپوس و کړو — چه ستا ډیر خوږ او دزړه راتیر دوست څوك دی»

هنری فورډ د لږ پکر او غور نه پس د میز په کپړا په غټو ټکو دا خبره و لیکله چه «ستاسو دټولو نه خوږ او بهترین دوست هغه دی — چه ستاسو بهترین قابلیت دنیا ته ښکاره او څرگند کړی» — مطلب داشو — چه دخلکو سره مینه کوی دهغوی مدد او کومك کویء — آخر به تاسو ته دهغوی داسی ښه او لوړ صفتونه مالوم شی — په کومو چه به چا ته څه شك او شبه نه وی — او ددې به تاسو ته دا بدل عوض او صله په لاس در شی - چه خلك به پخپله تاسو ته دمینې - احترام او قدر په ستر گو کتل شروع کړی —

په خلکو کښې دمخور کیدو یوه دټولو نه اهمه لاره داده - چه تاسو دخلکو دژو ندښه کو لو نصب العین خپل مخی ته کیدی دا کار په ایمانداري او اخلاص په کار دی - دچا نه دبدل څه طمع باید چه په دې ترڅ کښې ونکړی شی بلکه دا تعمیری کوشش بالکل بی غرضه پکار دی

ددی خبری خیال ساتل هم لازم دی چه تاسو د کو مو خلکو سره تعلقات رابطی او علاقی ساتل غواړیء - دخوشالۍ په وخت کښې چه هغوی ته زیری ور کول موهیر نه شی - او دغه رنگ د غم په وخت کښې چه د هغوی سره دزړه خوږۍ په کار کښې هم غفلت ونکړیء — که تاسو دهغوی په ماملو کښې دزړه ترجمانی و کړه - او دهغوی په خوشالۍ خوشاله او په غم غمجن شویء نو بیا په هغوی کښې ستاسو مخور کیدل یقینی خبره ده -

لنډه دا چه په خلکو کښې دمقبولیت راز یوسمه دمه او آسانه خبره ده - او په دې کښې څه داسی پیچیده او گرانه خبره چه گنی اول تاسو ته مالومه نه وه - ولی مصیبت خو دا دی - چه په مونږ کښې اکثر خلك داسی دی

(پاتی په ۷۱ مخ کښې)

(د ۱٦ مخ پاتی)

څوك چه پخپله خو د پسندی کښی داسی بدبدرا گیردی ـ چه هغوی ته دنورو په حالت د غور کولو او دهغوی سره دا نسا نیت سړی توب او زړه خوږی دسلوك کولو وخت هډو په لاس نه ورځی ولی بیا هم مونږ په دې خبره حیران او پریشان یو چه نور خلك زمونږ سره مینه ولی نکوی!!

رشتیا خبره خو داده ـ چه مخور او دهر چا زړه ته نز دی او دهر چا په ستر گو کښی خوازه لگیدو نکی هستیء هغه دی ـ څوك چه په اصلی معنو کښی دا نسا ن کید و په کوشش کښی خپل عزیز او خوږ وخت خرابوی ـ او چا چه په اخلاص او سو چه مینه دخلـکو دخپلولو مشالونه ځائته بل کړې دې ـ د کوم سړی چه نور خلك خوښ وی ـ هغه چری په دی خبره چرت خراب کړی نه دی ـ چه دی هم دنور چا خوښ دی او کنه ډیوه اول خپل سر ته اور پوری کړی ـ چه دنورو ژوندرڼا کړی ـ او هر څوك چه دنورو غم ژاړی ـ دهغه دغم ژړو لو دپاره لکه د شمع پتنگان پخپله راپیدا کیږی ـ

پیښور دالفلاح څخه : دښاغلی عزیز الرحمن سیفی ترجمه

په لویه محکمه کښی

دخان عبدالصمد خان اڅکزی بیان :

دلاهور په لویه محکمه کښی د مسټر جسټس شیر احمد دوړاندی دهغی وینا مطلب چه خان عبدالصمد خان اچکزی د(۱۲۳) (۱٤٦) او (۱۵۳) مادو په خلاف په (۳۹) مخو نو کښی دغی محکمی ته په تحریری ډول د(۱۹۵٦) ع کال دا کتوبر دمیاشتی په (۲٦) نېټه وړاندی کړی دی :

گرانه واکمنه! دابه ډېره ښه وی چه دپاکستان دجمهوری اسلامی حکومت په دې قدر منه محکمه کښی زما وینا دقرآن کریم په هغه آیت افتتاح شی چه دمسلمانانو په قومی او انفرادی روابطو مشتمل دی دامقدس آیت دحاکم او محکوم افسر او ما تحت او د افرادو په باهمی تعلقاتو یوشان حاوی دی،

زه دیوادنی مسلمان په حیث تل دا هیله لرم او ددی خبری کوښښ کوم چه دا آیت زما دژوندانه دلیاری بل مشال او روښانه ډېوه وی اوزه داعقیده لرم چه که ټوله اسلامی نړۍ، بلکه ټوله انسانی نړۍ دا آیت په اساسی اصولو ومنی او په دې آیت عمل وکړی نو ددې کار په اثر به زمونږ ډېر در دو نه روغ او ډېر مشکلات حل شی .

(تعاونو علی البر والتقوی ولاتعاونو علی الاثم والعدوان) یعنی په ښو کارونو کی دیو بل سره مرسته کوی او د ظلم او استبداد په چارو کی دچا سره مرسته مه کوی .

تاسو ماته اجازه را کړی چه زه تاسی ته خپلی هغه تجربې بیان کړم چه دپاکستان دجوړېدلو نه پخوا او وروسته ماته حاصلی شویدی اوزه داعقیده لرم چه که څه هم زما دغه تجربی ددی مقدمی سره راساً تعلق نه لری با لواسطه خو به ئی ضرور لری .

دخلافت تحریک

زه په ۱۹۰۷ ع کال کښې دبلوچستان په یوه داسې صوبه کې چه مسلمانان پکښې اکثریت لري په یوه مذهبي او عالمه کورنۍ کښې پیدا شوي یم، زما روزنه یواځې په یو هذهبي ماحول کښې نه ده شوې بلکه ماته تعلیم هم په مذهبي اساس راکړ شوي دي، تراتو کالو پورې ما په خپل کور کښې اوخپل محترم پلار اوخصوصي معلمانو څخه سربیره دفارسي اوعربي اوپښتو کتابونو دفقهي اوحدیث اوتفسیر اود اسلامي مضامینو نور کتابونه لوستلي دي اودېنه وروسته زه درسمي تعلیم دپاره سرکاري مدرسې ته لېږل شوي یم له دې کبله دایو طبیعي کار وچه په ما دخلافت دتحریک دومره اثروشو چه دتعلیم اومتعلمي په ابتدائي دوره کښې مادافیصله وکړه چه دبرطانوي حکومت ماموریت اونوکرې به نه کوم، حال داچه په دغه وخت کښې دتعلیم انتهائي غایه اویواځنې مقصد دحکومت نوکرې اوماموریت ؤ، زه دپاك خداې ډېر شکر کوم چه سره ددې چه په دې لیار کښې ماته ډېر تشویقونه اوتحریکونه راکول کېدل مګر سره ددغو ټولو خبرو زه په خپل دغه عهد قایم پاته شوم او پاك خداې دانګریز دماموریت څخه په امان وساتلم

چستان

هر کله چه مونږ دبلوچستان نوم اخلونو که پخوانۍ مفکوره مونږ سره وې او که نه وې ډېر لږ خلك دننني بلوچستان دحالاتو صحیح نقشه پخپل ذهن کښې راوستلي شي که څه هم دا منطقه په بلوچستان یعني دبلوڅو دټاټوبي په نوم یادېږي؛ مګر سره ددې هم بې دبلوچي ریاستونو څخه ددې منطقې دآبادۍ اکثریت اوډېره برخه پښتانه دي؛ چه دوی په خټه پښتانه اود دوې ژبه، ثقافت دسرحد دخلکو سره مشابه دې؛ دبلوچستان دمنطقې دهغو سیمو آبادي چه پښتانه په کښې استوګنه لرې اود (چیف کمشنر) په صوبه یادېږي دسرحدې صوبې سره متصلي دې؛ ددې سیمو ټوله آبادي دپاکستان داکثرو ښارونو څخه هم لږه یعني تقریباً پنځه لکه ده؛ لیکن دځمکې اورقبې په لحاظ داسیمه له ډېرو صوبه څخه لویه ده او خلك پکښې دیوبل سره ډېرلرې اوخپاره پراته دي.

دآیین په لحاظ ددې منطقې دشلو تحصیلونو څخه یواځې درې تحصیلونه په برطانوي هند کښې شامل وواو نورې ټولې مستجاري اویا قبایلي علاقې وې چه نن دغه علاقې دخلکو په اصطلاح کښې د (خاصو علاقو) په نوم یادېږي.

همدا سبب دي چه انتظامیه په دې علاقو کښې له آیینې څخه ډېره مطلق العنانه وه، دبرطانوي دورې په شان نن هم په دې علاقو باندې (قانون جرایم سرحد) او (جرګې) اوخانانو اقتدار مسلط دي اوددغو قبایلي منطقو

خلك دمرا فعې او تميز هيڅ اختيار او حق نه لري، كه څه هم داځايونه پخوادهندوستان اواوس دپاكستان برخې دي مګر سره ددې هم نه په هغه وخت كښې اونه اوس كوم يوصوبائي اومركزي حكومت ددې منطقې دنظم اونسق اوقوانينوسره كومه علاقه درلوده اونه ئې اوس لري، په هغه وخت كښې داټولي جاري دګورنر جنرال په اختيار كښې وي اونن دصدر مملكت په لاس كښې دي.

په هغو وختو كښې به كه څوك دهند څخه دې منطقو ته په اسانتيا سره نه شو ننوتلي، دې منطقو ته درار سېدلو سره سم به يواځې دهغه نوم او پته او دغې منطقې ته دهغه دراتللو سبب نه ليكل كېده بلكه په بلوچستان كښې به دهغه دقيام مودهٔ او په بلوچستان كښې به دهغه دقيام اوټيكا وځاى هم په پوره مفصل ډول ليكل كېده او ددغو ليكلو اومعلوماتو نه وروسته به دهغه په پوره ډول تعقيب كولي شو. ډېر خلك به په مختلفو بانو اوحيلو دې منطقې ته دننوتلو څخه منع كولي شول اودلياري نه به بېرته ګرځول شول، چاچه به دخامتا كالي اغوستل هغه به قطعا دې منطقې ته نه شو داخلېدلي اونه به په دغه منطقه كښې چاخامتا اغوستلي اوياد كوم سياسي تحريك نښان استعمالولي شو ډېر واره ډېر معزز مسافر دريل دتيسن څخه يواځې له دې كبله چه دوي به خامتا اغوستې وه بېرته ګرځولي شو يدي. په پادشاه خان باندي دې منطقې ته په داخلېدلو پابندي لګولي شوي وې او په دې منطقه كښې دداخلېدلو په ګناه بندي توب خود اپرونۍ خبره ده په هغه زمانه كښې نه مطبعه وه اونه كوم اخبار. دمطبوعاتو قانون په دغه ځاى كښې په (۱۹۳۶) ع كال كښې نافذ اوعملي كړي شو.

بلوچستان په هر لحاظ دنورو ځايو په نسبت ډېر وروسته پاته دي ليكن ننني بلوچستان هم دپخواني بلوچستان سره كوم مطابقت نه لري.

لومړي ګرفتاري:

ديورته مضمون څخه تاسي دا اندازه كولي شيء چه هغه څنګه بلوچستان وچه مادڅو ګسو ملګرواپه اتفاق دهغه دخدمت دپاره ملاوتړله، مونږ داغوښتل چه په دې ځاى كښې مونږ يوه داسي ډله جوړه كړو چه هغه يومذهبي او مجلسي نوعيت اوپه حقيقت كښې مونږ دغه راز ډلي اوجماعت ته ډېر ضرورت هم درلود.

هر كله چه زه دخپل مشر ورور سره چه اوس هم يو غير سياسي مغير انسان دي اوزما ديوبل عزيز خان محمدايوب خان سره ددغه تجويز شوي تنظيم دقيام نه وړاندي ونيولي شوم، نو ما ته داكار بيخي ناآشنا اودتعجب وړښكاره نه شو، ليكن سره ددې هم مونږ په دې خبره نه شويو هېدلي چه حكومت به زمونږ په خلاف زمونږ دبندي كولو دپاره كوم الزامونه جوړ وي؟ دباني په جوړولو كښې ډېره موده تېره نه شوه اوزمونږ دګرفتاري اونيولو نه تقريبا دوه ورځي وروسته زمونږ دقبېلې يوڅوتنو چه مونږ ددوي له دغه اقدام څخه قطعاً خبر نه و

دوه انگریزی افسران او یوه
ښځه د کوټی دچمن رو دڅخه
وتښتول ، دا یوا ځی یوه انتظامی
معامله وه چه دوی د خپلو لی
گناه خانانو دنیولو او گرفتاری
په مقابله کښی و کړه ، دد غه
کار د کولو نه وروسته دوی
دا اعلان و کړچه مونږ دا برطانوی
خلك په دې شرط پرېښودلی شو
چه زمونږ دغه خانان پرېښودلی
شی ، حکومت فی الحال مونږ
ته په دې جرم سزا را کړه چه
ددې برطانوی خلکو د تښتو لو
او اغوا منصوبه هم تاسو جوړه
کړې وه مگر سره د دې هم
دوی په دې خبره پوره یقین درلود چه
زمونږ دغه الزام په حقیقت
کښی غلط او دروغ دی ،

زمونږ په کورنۍ ډېری
سختی تیری شوی او کوم اجتماعی
جرمونه او گرفتاری او بندونه
اوربړونه او جوابی تشددونه
اولانجې چه په مونږ تېری شوی
له هغو څخه ما ته دا حقیقت
څرگند او ثابت شو چه دسیاست
په میدان کښی په ارادی او یا
غیر ارادی ډول دتشدد څخه کار
اخیستل قطعاً بې فایدې کار دی

د ېنه وروسته ما دا عهدو کړچه
زه به تل د تشدد څخه د کار
اخیستلو او په تشدد باندی
دتشویق څخه ځان ژغورم او تر
نن ورځی پوری، زه دا کوښښ
کوم چه زه په خپل دغه عهد ځان
ټینگ وساتم، کومه لیار چه
ما په ډېر لږ عمر کښی دخپل
ژوندانه دپاره ټاکلې وه هغه
زما دخپلو تجربو او خپلی باطنی
رڼا نتیجه وه. او زما په دې کار
کښی کوم یو خارجی عنصر او فرد
او یا کوم تنظیم هېڅ دخل نه درلود
او نه ما په دغه وخت کښی د کوم
یو داسی خارجی عنصر سره
درابطې دقایمولو دپاره کومه
موقع موندلی یا له دې کبله
چه مطبوعاتو او سیاسی ادارو
په دغه ځای کښی قطعاً وجود
نه درلود نو نه به څوك زمونږ
دبندی توب او سزا گانو او
دهغو دپس منظر څخه دباندی
څوك خبرېدلی شول او نه به
دبلوچستان اکثرو خلکو ته دغه
کارو نه معلومېدل .

د گاندهی اورون دمعاهدې
نه وروسته یو پنجابی تاجر ټولو
خطرونه دغاړی ایښودلو نه

وروسته دا خبره په پټ ډول
دلاهور دزمیندار اخبار مدیر ته
ورسوله نوموړی مدیر ددغی
معاهدې دمقرراتو لاندی زمونږ
دخوشی کولو مطالبه و کړه او
برطانوې حاکمانو شاید په دې
خیال چه ددوی پروپاگند قوت
قوت پیدا کړی مونږ د بند
دټاکلی مودې نه وړاندی
خوشی کړو .

دهندوستان دلارښودونکو
سره ملاقات :

د ۱۹۳۱ ع کال دجولائی
دمیاشتی په وروستی حلقه کښی
زه ځینو مسلکی ملگرو دې
دپاره بمبئی ته ولېږلم چه زه
په دغه ځای کی دهغو نماینده
گانو سره چه دد و هم گول
میز په کنفرانس کښی د گډون
دپاره لندن ته تلونکی دی ملاقات
اولیدل کتل و کړم او هغوی
دبلوچستان دحالاتو څخه پوره
خبر کړم .

گاندهی د گانگرس نماینده
ټاکل شوی ولیکن هغه تراوسه
دتگ په شا او خوا کښی کومه
قطعی فیصله نه وه کړې، بمبئی
ته دتگ په لیار کښی ما ده سره

په احمدآباد کښې و کتل، ده
ماسره ډېره همدردی ښکاره
کړه او ماته ئې وویل چه ته ماسره
بمبئی ته ولاړ شه او ماته ئې داهم
وویل چه ته ماسره په بمبئی کښې
یوځای دې دپاره واوسه چه
ته د ګول میز د نمایندګانو
سره چه بمبئی ته به راځی او ماسره
به ګوری ته هم په ډېره اسانتیا
لیدل کتل و کړې، زه په دې
لړ کښې د ماسره پنځلس ورځی
یوځای واوسېدم او د ډېرو
هندوستانی راه نمایانو سره مې
لیدل کتل و کړل او کوم خلك
چه د ګاندهی ملاقات ته نه
وراغلی هغو سره مې پخپله رابطه
پیدا کړه چه قاید اعظم په دغو
خلکو کښې په مخصوص ډول
دذکر وړ دی.

په دغه ځای کښې چه کومو
خلکو سره مې په خصوصی ډول
رابطه پیدا کړې وه، ورو سته
دهغو سره زما تینګه دوستی
اوملګرتیا پیدا شوه چه له هغو
څخه نن هم پاچاخان زما ډېر
صمیمی دوست دی او ډېر ښه
تعلقات لرو کوموخلکو سره چه
ما په بمبئی کښې اول ځل ملاقات
کړی و په دغه ځای کښې
ما دریم وار داعهدهم کړی وچه
زه به خامتا اغوندم؛ زما دخامتا
کالی ځکه ډېر خونړ شول
چه دا کالی په حقیقت کښې
دبرطانوی سامراج دمخالفت
دجنګ ښکاره نخښه تا کل
شوې وه.

بلوچستان مسلمانان او چاپ
خانه.

په ۳۲-۱۹۳۱ع کلو نو
کښې دبلوچستان قوم پرستو
ځلمو دنواب زاده میرمحمد یوسف
علی خان مګسی په متابعت او پیروی
کښې دنور صو بو په چاپ خانو
کښې مضمونونه چاپ کړل،
او په نو وه دنیائې بلوچستان
وپیژاند نواب زاده یوسف علی خان
دبلوچستان په موضوع دلاهور په
(مساوات) نومی ورځپانه
کښې یو مضمون خپور کړی و
چه د دغه مضمون په اثر
د قلات جرګې دغه نواب
زاده دا تلسو میاشتو د قید
د تېرو لو نه و رو سته لس زره
روپۍ جرم کړی و.

په دې جدا و جهد کښې
مونږ سره دپنجاب دمسلمانانو
مطبوعاتو او مسلمانانو جریده
نګارا نو ډېره قیمت بها
مرسته و کړه چه په دې خلکو
کښې زمینداران و مې و رځ
پانه او ددې چلونکی مولانا
ظفرعلی خان او انقلاب نومې
ورځ پانه او ددې چلونکی
مولانا عبد المجید سالك او
مولانا غلام رسول مهر د تولو
څخه وړاندی و.

په سنده کښې دبلوچستان تحریك:

په بلوچستان کښې حکومت
په دې منظور چه کوم یو تحریك
خپور نشی او په خلکو کښې
عمومیت پیدا نه کړی ډېره
سخت ګیری کوله زماد نقل او
حرکت به په ډېر دقت سره مراقبت
کیده او چه زه به کوم ځای
ته ولاړم او چا څخه به مېلمه
شوم پولیس به هغه د شپې
راوغوښت او زما په خصوص
کښې به ئې له هغه څخه
پوښتنې کولې او ورځې به ئې
هغه تا نې ته را غوښته او هغه
به ئې په عذاباوه لکه چه دا
طرز عمل نن هم په بلوچستان
کښې معمول او مروج دی.
مګر پخوا نی شدت ئی او س

نه دی پاتی ، په دې ډول حالاتو کښې دبلوچستان دې قوم پرستو ځلمو چه دمطبوعاتو په ذریعه د یو بل سره معرفی شوی وو د بلوچستان څخه د باندی د یو تحریك دشروع کولو فیصله وکړه په مونږ کښې ځینو د کانګرس د نشراتو سره ډېر عمیق دوستانه تعلقات لرل په تېره ما د پاچا خان او مولانا ظفر علی خان او نورو مشرانو سره ځکه ډېر نږدې تعلقات لرل چه زمونږ هدف او مقاصد سره یو بل ته نږدې او مشترك وو .

لیکن مونږ په دې حقیقت ډېر ښه پوهېدو چه د کومو حالاتو سره چه مونږ په بلوچستان کښې مخامخ وو له هغو له کبله عوام په پوره ډول د یو منظم او انتها پسند تحریك له عهدې څخه نه شو وتلې نو په ځای د دې چه مونږ په دغو تحریکونو کښې ګډون وکړو د ۱۹۳۲ ع کال د دسمبر په میاشت مو د بلوچستان اونور و صوبو د بلو څانو یو کنفرانس دسنده په جیکب آباد نومې ځای کښې منعقد کړ، ما د دې کنفرانس صدارت وکړ او دیو تحریك بنسټ می کښېښود چه د دغه تحریك مرام او هدف په بلوچستان کښې داصلاحاتو او په نورو علاقو کښې د دوی تنظیم و .

د ټول هند د مسلمانانو کنفرانس:

په ۱۹۳۳ ع کال کښې زه د بهادر مولانا محمد شفیع داؤدی او د مدارس د سید مرتضی بهادر په ترغیب د ټول هند د مسلمانانو په کنفرانس کښې شامل شوم او د دغه مجلس د انتظامیه مجلس په رکنیت وټاکلی شوم دې مجلس به علامه اقبال مرحوم د صدارت لاندې کار کاوه او ډېر هغه مسلمانان لیډران چه هغوی مسلم لیك تاسیس کړی وو دې مجلس اراکین وو .

په پنجاب کښې بې دخطاب یافته وخلکو څخه مولانا غلام رسول مهر دمتوسطی درجې دیوهانو دنماینده په حیث په دې کنفرانس کښې شامل وو چه دانتها پسند وعناصرو سره به ئې په ګډه سره کارونه کول .

بهتان تراشی :

په ۱۹۳۳ ع کال دبلوچستان کنفرانس دو همه کالنۍ غونډه د سنده په حیدر آباد نو مې ښار کې وشوه دسنده بلو څو په دې کنفرانس کښې په ډېره مینه برخه واخستله، میر بندی علی خان د سنده سابق وزیر اعلی ددې کنفرانس صدارت وکړ ، په دې کنفرانس کښې دافیصله او تصویب و شو چه دا ډله او جماعت دی د آل انډیا مسلم کنفرانس سره ملحق کړ شی او په مختلفو منطقو او علاقو کښې دی ددې مجلس او جماعت څانګې تاسیس کړی شی ، دادو مره تفصیل زه ځکه لازم ګڼم چه زه ددې تفصیل په اثر دهغه پروپاګند بې اساس والی ثابت کړی شم چه دپاکستان دجوړېدو نه وروسته په دې څوکلونو کښې شروع شو یدی ، په هغه وخت کښې چه د مسلم لیك عوامی تنظیم جوړېدلو ته نژدې شو نو

په دغه وخت کښې زما په خلاف
دمسلم لیګ داسې خود غرضواو
انتقام خوښوونکو افرادو په دې
پروپاګنډ پیل وکړ چه هغوی
دوریا شهرت عاشقان وو ،
دوی په دې پروپاګنډ پیل وکړی
چه دی هندو دی ، د هندوانو
ایجنټ اوغدار دی داهغه خلك
دی چه دپاکستان د آزادی ښخه
د ګټو او استفادې په چل ډېرښه
پوهېږی مګر دوی د پاکستان
دجوړېدلو او ساتلو د مشکلاتو
او مصیبتونو سره قطعاً سراو کار
نه لری او ددوی د سیاست ټول
اساس په الزام تراشی او بدو
ویلو او ښکنځلو باندی ولاړ دی.

نن هم دوی په ما پوری بې
اساسه تورونه او تهمتونه تړی
کله ما ته د افغانستان ایجنټ
وائی او کله د هندوستان .

او دا راته له دې کبله وائی
چه زه لکه د دوی په شان
دافغانستان او هندوستان په
خلاف سپکی خبری او ښکنځل
نه کوم لکه زه د داسې بدوچارو
ښخه ځان ژغورم دمسلم لیګ
ددې بهتان تراشی نتیجه داشوه
چه زه دپاکستان دجوړېدلو نه
وروسته په دی نهو کلو نو کی
فقط یو کال او اته میاشتی
دجیل خانې اویا د نظر بندی
ښخه محفوظ پاته شوی او دانجات
هم زما په خلورو قسطونو کښې
په برخه شویدی چه دغو قسطونو
ډېر اوزد قسط شپږ میاشتی و.
ددې سخت ګیر یو او ظلمونو
دجواز دا ثبات د پاره زه هیچا
کومی محکمې ته بوته تلم او سره
ددې چه ما په مسلسل ډول دا
مطالبې وکړې چه ما دخپل جرم
په نوعیت پوه کړی مګر تر نن
ورځی پوری نه چاز ما دغه
مطالبه او منله او نه زه چا دخپل
جرم او ګناه په نوعیت پوه او خبر
کړم ، دوه واره ما دمرافعې
محکمې ته مراجعه وکړه بووار
زه دغی محکمې په هغه وخت
کښې خوشی کړم چه په دغه
وخت کښې زما درخواست
هم داور پدلو دپاره دغی محکمې
ته وړاندی شوی واو په دوهم وار
مراجعه کښې زه محکمې پخپله
خوشی کړم ، ددې معلومات تو
او جریانات تو په لړ کښې باید دا
حقیقت پخپله څرګند او واضح
شی چه په هغه وخت کښې چه
ما او زما ملګرو په ابتدا کښې
د خپلو مصیبتونو پېټی په سر
اخیستې و او د خپلو ځانو دپاره
مود خپلو خپلو مجاهدو لیاری
تا کلی نو په داسې وخت کښې
دضرورت له مخی دهندوانو په
تحریك کښې دشمولیت په صورت
کښې مجموعی رجحان هم داو
چه دهیواد دمسلمانانو د تحریك
سره دی ملګرتیا وکړیشی ،
د حیدر آباد د کنفرانس
نه وروسته دبلوچستان حکومت
په دې خبره ډېر وار خطا او
پریشان شو چه د ټول هند د تنظیم
په حیث دبلوچستان د کنفرانس
پوه ځانګه په بلوچستان کښې
هم تاسیس کیدو نکی ده. له دې
کبله یوالحی زه بلوچستان ته
دورتګ سره سم بندی نه کړی
شوم بلکه د ټولو مهمو کار کنانو
په خلاف هم د اقداماتو د کولو
فیصله وکړی شوه او نواب زاده
میر محمد یوسف خان د خپل
قبیلی دسردارۍ ښخه برطرف
کړی شو او ځینی د کار خلك
ونیول شول او ځینی دخپل کار
دجاری ساتلو دپاره دبلوچستان

څخه دباندې ووتل. په ما باندی دجرائیم سرحد دقانون له مخی د(٤٠) مادې په اساس د کراچۍ او حیدر آباد د تقریر نو په لړ کښی مقدمه وچلولی شوه او ددغی مقدمې ددوران په موده کښی د تحقیقاتی (ای- ای - سی) دسفارش په اثر د الزاما تو په فهرست کښی (١٢٤) ماده هم شامله کړی شوه.

محلی حاکم زه د جرگې په تصویب سره د رې کاله قید کړم داده د هغه انصاف نمونه چه نن هم ور سره دبلوچستان خلك مخامخ دی. په دې موقع کښی چه په یوه داسی صوبه کښی چه مسلمانانو پکښی اکثریت درلود زمونږ د خالص اسلامی تحریك په خلاف برطانوی حکام په جنگ بوخت و په تیره بیا په هغه وخت کښی چه دا تحریك په آل انډیا مسلم کنفرانس پوری ملحق کیدونکی و نو په دې وخت او موقع کښی د هند دمسلمانانو لارښودونکو څخه خصوصاً او دمسلم کنفرانس دارا کینو څخه د مرستی او امداد توقع کول یو طبعی او قدرتی کارو.

لیکن زمونږ دهغو راه نمایانو څخه چه د خطابونو خاوندان دی یو تن هم مونږ سره خپله همدردی ښکاره نه کړه او نه ئې مونږ سره کومه مرسته وکړه، که څه هم زمونږ همکاران هر یو ته ورغلل لیکن په نتیجه کښی ئې له دوی څخه هیلی پر ېکړی شوې او دوی مایوس شول.

لیکن سره د دې هم په ځای د دې چه مونږ د بل جماعت سیوری ته پناه یوسو مونږ په خپلو قربانیو او زیارونو تکیه وکړه، مونږ په بندی خانه کښی بندیان و چه په ١٩٣٥ع کال کښی زلزله وشوه — د بلوچستان دې مرکزی ښار ته چه د قدرت او حکومت له خوا کوم آفتونه او ضررونه رسیدلی دی هغه کومه پټه خبره نده.

که څه هم ما د زلزلې په دوهمه ورځ د امدادی کارونو په لړ کښی دمرستی او تعاون پیشکش او پیشنهاد وکړ لیکن حکومت زه له دې پیشنهاد څخه (١٤) میاشتی وروسته خوشی کړم که څه هم دازما خوشی کول بې موقع کارو او دغه بې موقع کار هم زما د دې فیصلې په اثر وشو چه ما د پښتنو د عمومی رواج سره سم د ولږی د اعتصاب اراده کړې وه، د ولږی د اعتصاب طریقه نن هم په پښتنو کښی رواج لری او دا کار د امن او امان دقیام او دوام د پاره دحکومتی فشار څخه د منتخبو او ملې مشرانو د کامیابی او د هغو د رسوخ د برقرار ساتلو د پاره د ېره گټوره طریقه ده.

مطبوعاتی قانون:

داوه زمونږ د (٧) کالو د جد و جهد نتیجه — چه حکومت په ١٩٣٦ع کال کښی په بلوچستان کښی هم حکومت د هند مطبوعاتی

پاتی په ٢٥ مخ کښی

ومونږ ته دښاغلی محمد ایوب اصیل له خواچه یوزده کونکی دی داڅو گرښې را رسېدلی دی څرنگه چه دی زده کونکی دی اوعلاوه پرزده کړه دخپلی ژبی سره مینه څرگندوی او په همدې ډول لیکنه ـ مونږ دهمدې ډول زده کونکو دتشویق دپاره هغه لیکنه او دده فوتو نشروو «اداره»

ښاغلی محمد ایوب «اصیل»

مونږ

د ٤ مخ پاتی

قانون نافذ کړ او ما دخپلو خوشی کېدونه وروسته لومړی چاپ خانه او استقلال نومی اخبار جاری کړل دا اخبار په ۱۹۵۰ ع کال کښی مسلم لیگی حکومت داسی وواژه چه د دې اخبار مدیر ئی هم د قوانین جرایم سرحد د مقرراتو لاندی ونیو ـ او په ۱۹۳٦ ع کال کښی داغمجن وطن په نوم لومړی سیاسی تنظیم عملی کړی شو د دې انجمن مرام او هدف په بلوچستان کښې د آینی اصلاحاتو نفاذ او جاری کول او عدم تشدد او قانونی ذرایع د دې انجمن اصول و اوزه د دې انجمن صدروم.

له بده مرغه زمونږ ننني ځوانان چه دټولو خلقو سترگی ورته اوړی او د آینده ښوالی سترگی ئې دوی ته کېږی کیږی د دې ډول فکرونو سره مخامخ دی چه زمونږ دپښتنوالی څخه څه لیری شانته ښکاری که څه هم پخوا تر دې زمونږ دپلار او نیکه نوم په ټوله دنیا کی یو ښکاره او دافتخار شی وزمونږ نوم په تاریخ کښی یو ژوندی نوم دی او دخپل اخلاق او شرافت په واسطه ورته ښه ویل شوی دی مگر نن چه سړی گوری مونږ هغه رنگ نه لرو او اوسنی عصر ډېر له خپله حاله بل شانته کړی ښکاری

څرنگه چه دا ډول ده زه دیوه شاگرد په صفت وایم چه که زمونږ مشران او هغه کسان چه زمونږ روزنه ئې په لاس کی ده لکه زمونږ معلمین په همدې خوا کی څه توجه وکړی او په مونږ کی خپل دپلار او نیکه اخلاق پیدا کړی ډېره نه ښه وی زما په خیال چه یو سړی ته دا کار چه یو څه پر ځان اعتبار ولری او خپل گریوان ته وگوری ډېر ښه دی خو زمونږ ځوانان نن دهر هر چا د اخلاقو پیروی او هر هر کار چه نن رواج وی دپېښو وړ بولی او داشی به وروسته وروسته مونږ له خپل حاله او ملیت نه ډېر لری کړی.

نو زه دټولو خپلو ملگرونه غواړم چه دری هم خپل پکرونه

(پاتی په ٦ مخ کښی)

د پښتنو مقابله د سکندر سره

دحضرت مسیح علیه السلام ترمیلاد تحمیناً (۳۲۷) کال پخوا د هخا منشیا نو ترزوال وروسته یونانی سکندر دهندوستان دنیولو په غرض د پښتنو پرځمکه حمله وکړه، خو د مخه تر هغه چه هند وستان په افغانستان او پښتونستان کی ددا سی سختو مقاومتو سره مخامخ شو، چه څو کاله دده تول لښکر د پښتنو په غرو او غورکی حصارو، او دی پخپله دوه واره د پښتنو له لاسه ټپی سو.

(د ۲۵ مخ پاتی)

وریاد کړی او د هغوی په شان د خپل هیواد و خدمت ته ملاوتړی او دهیواد والوسره په دې لاری کښی کومك وکړی یعنی هغه کارونه وکړی چه دیلار او نیکه له خوا مونږ ته پاتی شوی او ددوی افتخار یه دیر کوښښونو ساتی ځکه مونږ پښتانه یواو پښتون ښه نوم لری او دا ئوم ساتل زمونږ فرض دی.

د (۳۲۷ قبل المیلاد) کال په پسرلی هغه وخت چه سکندر دهندوکش دشمال له خوا دهندوکش جنوبی خواته حرکت کاوه، دده عسکر یوسل او شل زره پلی او پنځلس زره سپاره وه.

دخاواك د کوتل له لاری په لسو ورځکو کی د مپروان هغی نظامی کلاته را ورسید چه دوه کاله ئې دمخه جوړه کړی وه، دهغه ځای حاکم ئې معزول کړاو له خپلی خوائې بل حاکم وتاکه او هم ئې خپل څه ستری عسکر هلته پریښو دل او پخپله د «نیکایا» دښار خواته روان شو.

د نیکایا دښار اصلی موقعیت ښه معلوم نه دی، خو پروفیسر ولسن هغه دبګرام په شاو خوا کی بولی، او وئسنت سمت ئې دجلال آباد لمر لو بدو خواته د کابل او هند پر لاره ګڼی.

کوم وخت چه سکندر د نیکایا ښار ته ورسید هلته ئې وارو بد چه ځینی آریائی قبائل د کونړ اسمار، باجوړ، سوات او نور و غرونو کی په غرنیو کلا ګانو کی او سیږی.

سکندر ته داهم وویل شوه چه د اخلك تر او سه دهیچا او هیڅ قوت تابع شوی نه دی او آزاد ژوند ون کوی. ځکه نو سکندر داعزم وکړچه دا غرونه فتح کړی.

خپل لښکر ئې پر دو و برخو ووېشه، یوه برخه لښکر ئی دځان سره وساته، او بله برخه لښکر ئې ددوولو بو او مشهور رو یونانی مشرانو (هفستیون) او (پردیکاس) ترقوقوماندې لاندی وتاکل، چه د «تکسیلا» دشهز اده په لارښوونه د «پوکی لاو تیس» دمنطقې خواته لاړ شی چه هلته پراباسین باندی دلښکرو د تیریدو دپاره پل جوړ کړی.

دی پخپله دخپل لښکر سره دلغمان او کونړونو دنیولو په غرض هغی خواته و خوځید، خوخو مره چه دی پر مخ تلی، په همهغه اندازه د پښتنو د مقاومت سره مخامخ کیده.

د کونړ دسیند ترغاړه ئې دیر تلفات ورکړه او سره له دې چه

دسکندر سره دتول یونان او نورو مفتوحه ملکو نو مجهز لښکر بېخی ډېرو ، خو بیا هم د هغه ځای ننګیالیو پښتنو ډېرو ځنډاوه او ډېر مشکلات ئې ورته پیدا کړه، حتی داچه د یوې کلا د محاصرې په وخت کې یخپله سکندر پراوزه باندې تپې سو (۱) چه داد سکندر په نولو جنګو کې لومړی ځل دی چه تپې کیږی. برسیره د په سکندر بطلیموس د لا کوس زوی او لئوناتوس دسکندر دوه لوی منصبداران هم تپیان شول.

سکندر د سخت سرو پښتنو له دې مقاومت څخه سخت عصبی او په غضب شو، امرئې وکړ چه د پښتنو تول بندیان چه د یونانیانو په لاس کښېوتی دی هغه دی تول ترتیغ تېر کړی، چه په دې امرئې د پښتنو تول بیګناه بندیان په ډېرو وحشت سره ووژل، خو بیائې هم ونشوه کولای چه د پښتنو جنګی کلاونیسی، څو په پای کې سکندر خپل تول قوت سره یو ځای کړ او کلائې محاصره کړه، او ډېر سخت خو نړی جنګ ئې شروع کړ.

څنګه چه د پښتنو جنګیالیو شمېر بېخی لږ و، او هم محاصره ورباندې ډېره تنګه شوې وه، پښتانه مجبور شول هغه کلائې تخلیه کړه، خو بیائې هم ځانونه متجاوزینو ته تسلیم نکړه او دغرو سرونو ته وختل، مګر سکندر دومره په غضب شوی و، چه د هغې کلا یوه تېږه ئې پرځای پرې نه ښودله او له بېخه ئې ونړوله او لونی لونی ئې کړه، او هم هرڅوك چه ئې پښتون لیده که بوډا و، که ماشوم، که نر او که ښځه تول ئې په ډېرې بې رحمۍ او ظالمانه ډول وژل.

له هغه نه وروسته سکندر خپل څه لښکر د «کراسیروس» په قوماندانۍ د کونړ په دره کې پرېښود، او یخپله د «سواست» د سیند په غاړه رهی شو، د هغه ځای پښتنو چه د سکندر د راتګ وار وېدل خپل ښار نه ئې او ر واچاوه، او یخپله په دې غرض چه د دښمن په لاس ورنسی غرونو ته وختل.

تر هغه وروسته سکندر د اسمار له لاری د باجوړ او جندول د پښتنو سره لاس او ګریوان شو.

سره د دې چه د سکندر د لشکری قوت ډېر زیات و، خو بیا هم پښتنو د خپلی آزادۍ ساتلو د پاره لاس پلاس خو را سخت جنګونه ورسره وکړه، چه په دې جنګو کې د پښتنو یو ننګیالی مشر هم مړ شو.

مؤرخین لیکی چه سکندر په دې جنګو کې ځلو پښت زره سړی بندیان کړل، او د وه لکه او ډېرش زره غوائی ئې په غنیمت ونیول، او څنګه چه هغه وخت پښتونستان د ډېر ښه ځار وی در لودل خصوصاً غوا وی، نو سکندر امر وکړ چه څو غواوی دې د نسلګیرۍ د پاره یونان ته واستولی شی. (۱)

سکندر تر ډېرو جنګو وروسته با جوړ قبضه کړ او د پسرلی په وخت د «کوریوس» تر رود خانی چه اوس ئې «پنجکوره» بولی پوریوت او د کوز سوات په دره کې بیا د هغه ځای د عنبتلیو او ننګیالیو او سپدونکو د سختو

(۱) تاریخ افغانستان ـ ج ـ ۴۱۰ مخ دښاغلی کهزاد اثر (۱) (د ۱۳۱۴) کال د کابل کالنۍ ۱۵۴ مخ

مقاو متو سره مخامخ شو.

«آرین» مؤرخ لیکی چه دهغه ځای اوسېدونکو دوه زره سپاره اوتر دېرشو زرو زیات پلی جنګیالی مړونه اودېرش پیلان دجګړې ډګرته حاضر کړی وو.

د مساګا د ښار محاصره:

تر دې وروسته سکندر د مساګا د ښار محاصره شروع کړه سراورل ستن - د دې ښار موقعیت په کوز سوات کښی ښودلی دی چه وائی له هغه ځایه د پېښور او ګندارا خوا ته لاره ځی. سکندر چه دې ښار ته راورسید د هغه ځای خلکو ځانونه په ښار کښی محاصره کړل: پدی وخت کښی د سوات د باندی اوه زره تنه نور پښتانه د ښار خلکو کمك ته راورسیدل، او حصار ته ئې نژدې موقعیت ونیو: سکندر د دې د پاره چه د حصار د یوال ته نژدې جنګ و نه ښلی خپلو عسکر ته ئې امرور کړچه له ښار څخه دی د غونډۍ خوا ته پر شاشی: دې وضعیت سواتیانو ته جرئت ورکړ چه بې له کوم انتظاره په دوې پسی روان شی، او څرنګه چه د دوی غشی یونانی عسکرو ته ورسیدل سکندر خپلو عسکرو ته د درېدو امرورکړ او تر سخت جنګ وروسته سواتیان مجبور شول چه بېرته ښار ته ننوزی څنګه چه ارین لیکی: سواتیانو څلور ورځی په ډېر زړورتوب او مړانه مقابله او دفاع وکړه او یونانی عسکرو ته ئې ډېر زیات تلفات واړول حتی په لومړۍ ورځ خو یو غشی پخپله د سکندر په پښه هم ولګېد او زخمی شو: بله ورځ یونانی عسکرو د ښار د ورانولو او حصار ته د ورختلو وسایل تهیه کړل: د ښار په دیوال کښی ئې کنډو جوړ کړ او هغه وخت چه یونانی عسکرو غوښتل، چه په ښار ورننوزی، پښتنو داسی مدهشه حمله وکړه چه سکندر او د ده لښکر ئې ترشا کېدو ته مجبور کړ په دریمه ورځ یونانیانو خپل خورا ډېر لښکر د حصار کنډو ته وګمارل او حصار ته نږدې ئې دلرګو بوجګ برج جوړ کړ چه له هغه څخه یونانی غشی ویشتونکو غشی ویشتل

د دې جنګ په نتیجه کښی بیاهم یونانیانو ونشو کړی چه ښار ته ننوزي. څلرمه ورځ پخپله سکندر له ډېرو عسکرو سره کنډو ته نژدې راغی هنجنیقو به ئې ودرول او د حصار شاله خوا ئې پر خندق د لرګو پل جوړ او خپل هغه خورا غښتلی او جنګیالی سربازان ئې راحاضر کړل کوم چه د «تیر» د ښار په نیولو کی ئې خدمت کړی وو. خو هغه وخت چه د هغه پله ته تېر بدل پل لنګر وکړ مات شو: یونانیان په خندق کی ولوېدل ننګیالیو پښتنو چه د ښار له دیوالو څخه د دې منظرې ننداره کوله د جنګی چیغو په ترڅ کی ئې یونانیان په غشو، په ډېرو، لرګو، تېرو او څه چه ئې په لاس ورتله ویشتل، څو سکندر په ډېر پریشان وضعیت الکتاس د یوې ټولۍ نفر یو سره مامور کړ چه یونانی ناکامه ټپیان واخلی او بیرته خپلی

عسکری چونۍ ته وګرځي.

پنځمه ورځ بیا یونیانو خورا سخته حمله شروع او په دیوال کی ئې بل کنډو جوړ کړ: بیا هم ننګیالیو پښتنو تر څو چه مشر ئې ژوندی و، په ډېر شهامت او زړورتوب د دنیا ډېر لوی قوت ته اوږه ورکړې وه او ور سره ئې جګړه کوله.

نو هغه وخت چه د دوی مشر دمنجنیق دیوې ډېری په اثر مړ شو، دوی هم څه مړه او څه ستړی شول او تر ډېر شور ماشور وروسته ئې روغې ته غاړی کښېښو دله. سکندر د پښتنو دزړورتوب او دلاورۍ مفتون شوی و، دروغی په شرطو کی ئې یو شرط دا کښېښو د چه پښتانه ځلمیان دی دده په عسکرو کی شامل شی روغه وشوه، او سوانیانو پښتنو د ښار د باندی دیونانی چوانۍ په مقابل کی خیمې ووهلې. خو څنګه چه دوی نه غوښته دخپلو نورو پښتنو ورونو په مقابل کی د یونانیانو په طرفدارۍ وجنګېږی دشپی ئې یو تړون وکړ چه ټول ښار ته ولاړ شي، مګر څنګه چه سکندر دمخه په هغه تړون خبر شوی و، ددوی مخه ئې ونیوله او په ډېری نامردۍ او سفاکۍ ئې هغه ننګیالی پښتانه سره دهغوی دښځو او وړو ماشومانو او بوډاګانو ووژل، مؤرخین د سکندر دا نامردانه اقدام ډېر بدستائی او دیوه جنګیالی او ننګیالی قهرمان دشان څخه ئې لیری او ناوړه بللی دی، او معلومېږی لوی سکندر دلته ډېر وړوکی شوی و، او د ننګیالیو او زړورو پښتنو په مقابل کی ئې دقهرمانۍ احساسات بایللی وو، غیظ او غضب چه د کښتو خلکو کار دی پر سکندر حاکمیت موندلی و ځکه چه د پښتنو د ښځو او ماشومانو دوژلو څخه ئې هم مخ ونګرزاوه.

دبازیرا او اورا محاصره:

د «بازیرا» او «اورا» ښارونه چه سکندر د «مساګا» ترنیولو وروسته هغی خواته ځی هم په شرقی سوات کی وو. سرا ورل ستن دیوه موقعیت په «بیر کوټ» کی او دبل دا تر هغه لږ څه پورته د «اوډی ګرام» په کلی کی تاکی سکندر د «مساګا» ترنیولو وروسته فوراً «کونیوس» د «بازیرا» ښار ته او «اتالس» او «الکناس» او دمترلوس در سالی کپتانان ئی د «اورا» ښار ته ولیږل او هغوی ته ئی هدایت ورکړ چه دده تر رسیدلو دمخه دی هغه ښارونه محاصره کړی.

د «اورا» د ښار خلق د «الکتاس» دعسکرو مقابلی ته راووتل مګر یونانیانو هغه مجبور کړه چه دښار په حصار ننوزی خو په بله جبه کی د «بازیرا» دښار په مقابل کښی یونانیان پدی آسانۍ سره پر مخ نه ولاړل. د «بازیرا» ښار دیوه غره په سرؤ او شاو خوا ئې ډېر ټینګ حصار درلود، د هغه ځای خلک په خورا ډاډه زړه جنګیدل او ژنرال «کونیوس» ته ئی سخت مشکلات پیښ کړل سکندر چه پدی قضیه خبر شو د «بازیرا» خواته وخوځید خو څنګه چه ئې واوریده چه «ابی سارس» ځینی قبیلی د «اورا» دښار محصورینو ته د کمک دپاره

لیږی له هغی خوائی مخ راو گرزاوه
او لکه څنگه چه آرین وائی
«کوینوس» ته ئی هم خبرور کړ
چه څه نفری دی هلته د ښار شاو
خوا ته د وضعیت د ساتلو د پاره
پریږدی او پخپله دی راشی هغه
وخت چه «کوینوس» له ښاره
لری شو محصورین له ښاره راووتل
او ډیره خونړی جگړه و شوه چه
د یونانی مؤرخینو د لیکنو له قراوه
«۵۰۰» تنه سواتیان مړه او
«۷۰۰۰» تنه بندیان شول او نور
د شپی په تیاره کښی د «اورنس»
د غره څوکی ته وختل.

د «اورنس» جگړه:

داځای د سوات او بنیر د
جنگیالو د امید وروستنی ځای
ؤ ځکه چه د «اورنس» څوکی
د لوړ والی له حیثه خورا مهم
عسکری موقعیت درلود. او د
سکندر په جنگو کښی د پښتنو
په گټه ډیر مهم رول لو بولی
دی. «اورنس» د یونانیانو په
روحیاتو باندی ډیر تاثیر درلود
او د دوی د افسانو له رویه
«هرکلیس» د «زومر» زوی
(یونانی رب النوع) هم د دی
غره په نیولو موفق شوی نه ؤ.

ارین د دی غره جغرافیائی
وضعیت داسی لیکی:
احاطه ئی (۲۰۰) استادیا
لوړوالی ئی له ۸ تر ۱۱ استادیا
پوری ؤ او بی له یوی سختی لاری
چه د زینی په شان په غره کی
کیندلی شوی وه بله لاره ئی
نه درلوده په سرکی ئی روانی
او نه او د کرهنی ځمکی دومری
ډیری وی چه زرو تنو ته هلته
کرونده او کار پیدا کیدلی شو
د دی غره هغه لمنی چه د «اندوس»
خواته غوړیدلی وې ټولی په
ځنگلو پټی وې. سراورل سټن
تر ډیرو عملی کشفیاتو وروسته
چه په ۱۹۲۸ ع کښی ئی کړی دی
د دی غره موقعیت د بنیر په
«پیرمر» باندی تطبیقیږی.
سکندر د «اورا» او د «بازیرا»
د ښارو د فتح سره د سوات ټولی
دری و نیولی او غوښته ئی چه د
هغو عسکرو سره یو ځای شی
کوم چه د «هفنسیتون» او
«پردیکاس» د قوماندانی
لاندی د کابل له لاری پیښور ته
استول شوی و. سراورل سټن
وائی د «دیودورتس» او
«کوریتوس» له وینا څخه

څرگندیږی چه د «اورنس»
غرد «اوندس» ښی ساحل ته ؤ.
سکندر چه د بنیر او برسوات تر
د رو تیر شو لمر خا ته خوا د
«اندوس» ته ئی هڅه و کړه
او د جنوب خوا ته ئی د هغو
سواتیانو او بنیریانو تعقیب کاوه
کوم چه د غره څوکی ته ختلی ؤ
دده دا اقدام ئی یوه عسکری
خدعه بللی ده او داسی لیکی:
چه پدی چل ئی یو خو د دوی د تیښتی
لاره د لمرختو خواته و تړله
او بل دا چه د «ابی سارس» کمك
رسول ئی هم بند کړل د ریمه
دا چه د پېښاور او نورو ودانو
ښارو څخه ئی د خپل عسکر
د پاره اذوقه او خورا که هم
په اسانی سره را رسولی شوه.
لنډه دا چه سکندر وروسته
تر هغه چه لازمه ترتیبات و نیول
د خپلو عسکرو له منځه ئی خورا
ښه سربازان پیاده او سپاره غوره
کړه او جگړی ته تیار شو خو دا
یوه خبره باید ذکر کړو چه د
سکندر د کامیابی یو مهم
عامل پخپله د هغه ځای ځینی
بی ننگه او سیدونکی ؤ څنگه
چه یونانی مورخین لیکی د هغه

ځای ځینی اوسیدونکی دیونان
لښکرو دراه بلدی دپاره حاضر
شوی ؤ او د سکندر په امر
بطلیموس د څه لښکر سره چه به
راه بلدا بو پسی ؤ او سکندر بیا
په هغوی پسی تی ء. څنګه چه د
«اورنس» څو کی (٦٦٠٠)
څخه تر (٩٦٠٠) فیټه پوری
جګوالی درلود او شاو خوائی
هم عموماً ډیری ژوری وی او
پښتنو هم دغره له سره پر دوی
منګړی رارغړولی . یونانیان

په ډیر زحمت شول او ډیر تلفات
ئی ور کړه او بر سیره پر دی چه
څولوی منصبداران ووژل شوه
نژدی ؤ چه بحیله سکندر هم
مړشی چنانچه دیونانیانو پدی
ناکامی باندی پښتنو دخوښی
چیغی پورته کړی سکندر اوه
ورځی په ډیرو مشکلاتو اخته ؤ
څو په پای کی ئی دونوتنی پری
کړی او له هغو څخه ئی غونډی
جوړی کړی او ددی غونډیو
څخه ئی غشی و یشتل .

په آخر کښی سکندر خپل
ټول قوت سره راغونډ کړ او ځکه
چه ډیر ناامید شوی و په ډیر
جوش او خروش خپل ټول قوت
پکار واچاوه او پدی ذریعه ئی
دپښتنو په دفاع کی یو کنډو
جوړ کړ او هغوی ئی روغی ته
مجبور کړه او سکندر د
«اورنس» په غره هم قبضه و کړه
دسوات او بنیر د پښتنو د امید
وروستنی ځای هم د سکندر
په لاس کښیوت (١)

(١) په دې مقاله کی دښاغلی احمدعلی کهزاد له رسالی څخه چه « فتوحات اسکندر » نومېږی هم استفاده شوې ده.

ښاغلی عبدالصمد

راشه...

سهاردی . . . .
دلمرطلائی وړانګې دمځکې پرمخ ځلېږی . . .
پردېس د سفر کولو په هڅه کی دی . .
ای ګرانی !
راشه او په ډېره مینه . . . .
تا ته د زړه د کور و ر پرانتلی دی . .
د ښایسته ګلانو تاج پر سر کېږده . . .
هر کلی را ته وو ایه . . . ت
اې ښکلی مېر منی !
راشه او ژر . . .
ورځ پر تمامېدو ده . . .
هغه وخت دی چه سره بېل شو . .
راشه اې ګرانی چه داو ښکو ډکی ستر درواړوم . . .
اوته هم یووار دوز ستی کړی دپاره راشه اورانژدې
هغه وخت دی چه ته . . .
هو! ته را نژدې شې اوزما دا اوتی بڼې حال له نژدې و ګوری . . .
اې زما د غم سره شریکی !
راشه . . .
سهاردې اودامیدو نو وخت
راشه !
راشه اې دعشق ملکې چه دخاطراتو د اسلسله پاتی شی اودډېر وخت د پاره . . .
او دابد دپاره . . .
هلته . . . !
د اسمان پر مخ څه تو راوره لیدل کېږی . . .
او نن . . . .
نو راشه اودډېری لږی کړی دپاره چه دمینی او محبت د آغاز انجام هم نیکمرغه وبولم
راشه ! اې ګرانی اودوروستی کړی دپاره

په ژړائی دسلګو وارنه کیده—پوهېده چه یوساعت پس به ګل محمدخان راشی او په ما به دغضب تندر راپر ېوزی.

(۲)

مرغی ښایسته وه—قابله وه—په خپله پلر ګنۍ کی دټولو دستر ګوتور وه همزو لو به ئی وی چه ددی په خبرو کی جا دودی—هرڅوك راماتوی اوس هم چه به ددې پخوانۍ همزولی چرته داختر په بابی چغ یوځای شوې نو ددی خبری به ئی رایادولې په خپل کلی کی دمرغۍ اصیل والی اوسیالتوب مشهورو لیکن افسوس د پښتنو ناروا رواجونو هغه بې برخی کړه—سپیره ئی کړه (بدشګومه) دهغی په تندی تیاره شوه پلار ئی په روپوپسی ړندېده په خپلو سپېرو لاسونو ئی ډولۍ کی کښېنوله اولیری ئې ور کړه یوڅومیاشتی پس دهغی کوڅۍ ببری شوې—او هغه یوه کونډه وه او نجلۍ کونډه—دغمونو غرئی په سر راپری وتی و—پلر ګنۍ کره خوئی ځای نه و—خسر ګنۍ بیا سپېره ورته ویل—اوس هغه سپېر مخی وه (نیک پاله نه وه) ناکاره وه—دټول ټبر پېغورونه به ئی تیرول—د سخر کنځل به ئې زغمل—ټوله ورځ به ئې کار کی زړ ګی وچا و دی خو بیګا به ئې د ستر ګو پټولو حق هم نه ؤ—هغې ډو ډۍ نه خوړله بلکه ډوډۍ دا خوړله—خیرنو خچنو کالو ته ئې هم زړه کیده کفن به ئې را یاداوه—داسی روځ پر حرامه وه چه څلور شپږ کنځل به ورته نه کیدل—یوه روځ به هم داسی نه تېرېدله چه یوه یا دوې پڼې به ئې نه خوړلې—یوه روځ ئې په سر کی زمونځ ووهله خسر پرې دتوت د لښتی وار وکړ لو چه ډېری ورځی ئې په هغه لاس کار نه شوای کولای—لو پټه ئې خیر نه خچنه ریخانګی ریخانګی

وه نو مرغۍ دمورد کور لو پټه په سر کړه سخر پرې له شا نه د خاو رو تیل پر واچول تیلی (اورلګیت) ئې ورته کړ لو خو خدای ترې بچ کړه - دا ننني جنګ په څه وو -

په دې چه دشپاړسو کا لو جنې چه تمامه روځ ئې په میچنو زړه شین شو د ګرمۍ خولې نیز (سیلاب) غوندی پرې روانی وې دبا د د پاره کوټې ته وخته - بس دانه وه بلاوه - دمرجان په ستر ګو کی اغزی اغزی کیده - تېر ماخو ستن مرغې کټ کی لږه غوندی ملا نېغه کړه چه ګل محمد خان کورته را ننوت نو د راتلو سره ئې خو له و ربا ندی و سپړ له :

ستا ملاولی ماته ده ؟ ډېوه کی لاباتۍ خلا صه نه ده - ته بیا مردارہ شوې ئې. پا څه لا س و ینځو نی راوا خله.

مرجان په یوه ټوپ ورته مخ کی شوه او وې وې: «دې ته څه مه وایه دا د محل رانۍ پرې ده چه خوب و کړی - که ستا څه کا روی نو زه به ئې کوم» دومری ساعت کی مرغۍ کوزه ا ولاس منځې لاس کی خسر ته و رغله - مرجان ورته په سینه کی یو دا سی ټیله ور کړه چه غریبه لکه خانګی را وغورځیده - مرجان ووې :بس بس موږ و بخښه د خپل خا و ند خدمت به زه پخپله کوم ته ځه پا لنګ کی ویده شه - ته را نۍ ئې مرغۍ د اوښکو ډ کی ستر ګی ورته راواړ و لې او وې وې:

ابۍ! زه را نۍ چیرته یم - ستاوینځه یم ته هسی خفه کېږی مرجا ن پرې لر ګی را وچت کړ - ته بیا ما سره خبری کوې؟

و ګو ر ه خلقه! ماد دې سره څه بد کړی د ی چه د ا هروخت ژا ړی ما که تش د و مر ه ووې - لو ری دا کار د سیا لا نو د ی - ته کو نډه ئې نو

ما

بده خبره کړې ده ؟ را نه ی له هغه وخت نه راهیسی تندی تر یو نېولی دی اوژبه ئې را باندی ایستلی ده بیا ئې لاهم ارمان پاته دی !؟

گل محمد خان چه دا خبره واورېده نوخپلی ښځی ته ئې ووې: «ته ددې بد بختی سره څه مه وایه ـ دا بدبخته به یوه روځ زما پوزه پرې کړی ـ دا خوتا اول وار پر خپل سرخیژوله ـ هغه بله روځ چه می پرې دخاور وتېل وا چول اوسوځله می چه د غمه ئې خلاصه شی نو ته زما مخی ته راغلې او مخ کی مخ کی کېدلی اورانه خلاصه دی کړه اوس مزی کوه»

مرغۍ په سلګیو سلګیو د خسر په پښو کی ولو یده او وې وی :

باباجې! ما دی خدای مړه کړی که به ما دا بۍ سره لام کلام کړی وی ـ خدای خبرچه ولی د سهار راهیسی را پسی شوې ده

گل محمد چه دا خبره د مرغۍ له خولې واو ریده نو پر سر باندی ئې یوه ښه څپېړه ور کړه اووئې وې :

« لری شه! تا ته دی خدای مرګ در کړی چه زما عزت په ځای پاته شی ـ زما د غمی په شان زوی دی و خوړ ـ اوس په دې سپینه جامه داغ هم را ایږ دی ؟ »

مرغۍ پا څیده او په زاریو ئې لاس پر تندی کښېښو دا و وئې وې :

بابا! که رشتیا داسی وی لکه چه ته وائې نو ما اوس و سوځه چه سبا ستاسی د ډیران یم او ځوك می نوم په خوله وانخلی»

گل محمد خان چه دا خبره واور یده تر خوله ئې ځګو نه راغلل په ډیر تاوو لاړ شو ـ

«مرد اری - پلیتی - شیطانی زماله لاسه - ول غواړ ی ؟»

مرغۍ: باباجې سول غو اړم — له خپله لاسه راباند ی اورو لګوه - زما تر ژ وند مر ګ ښه دی - ز که یم نوڅه او که نه یم نو څه ؟!

ګل محمد: کم اصلی - دراز محمد پلیت نوغې - زه به، په تا اوس ښه اوربل کړم (داخبرئې و کړی) اوښځی ته ئې اواز کړ -

دجمال خان موری ! هغه دتیلو بوتل راوړه په دې وخت کی پر بیو زلی مرغۍ را ګرزوی او په و هلو شر و ع کیږی پس له دې په غولی کی د غه درې او ازونه اوریدل کېده نور هیڅ یوزغ نه وو - یود ګل محمد د لر ګی شر کها ر، بل د هغه داچغی چه «اور غو اړ ې !»

«حرا مونی اور غواړې !» — بل دمرغۍ په زور ه چغی چه و یل به ئې «باباجی مړه شوم . . . . .» زه مړه شوم - دخدای دپاره — ر سو ل ته ګو ره . ، . . خپله پلا ره . . ، . خپلی مو ر ی . . . . یه کا ګا صاحب ، . . . رارسېږ ی . . . . یه لو ی ځوا نه مد د ز ه خوبې ګناه یم . . . . زه خوبې خطا یم . . . . یه خدایه . یه ربه!

﴿۳﴾

دبد بختی مر غۍ مخ نن لږغوندی روڼ ښکا ری — بدن کی ئې ا یله و ینه ګرزیدلی د ه داځکه چه یو نیم کال پس مور کره تللې د ه — دمشرورورواده ئې دی — دخسر کره ئې پښتۍ په و هلو وهلوداسی شوی دی لکه چاچه چنه پرد وړه ولې وی - په ژړاژړا ئی ستر ګی سپینی شوی وې دې وې چه مور کر ه به یو څوورځی په خنداتیری کړم قسمت ورته وویل چه د کو نډی هېچری دخوښۍ ځای نشته د مور غېږ ستادپاره اوس یوسور تنور دی - مرغۍ پس له ډ ېری مدې دخپلوهمز ولو څهر ې لید لی وې خوشا له و ه - دخپل غم هغه اوږد ی

قصی ئې شاته کړی وې - د هرچاسره ئې په خنداخبر ی کو لې - جامې ئې پس
له ډېری مودې څخه اغوستی وې - چه دې نو یو جاموئې وهمز ولو ته بیاهغه تېر
ښایست ورپیاداوه - دورورواده چه به ئې پرزړه دخوشالۍ بادراوا لوز او ه
نو کله به ئی دنجونو سره ټو کی ټکا لی هم کو لې - خو بیا به ئې
د نجونو سره سند ری و یلې چه ور وربه ئې و لید نو دا به ترمو رز یاته
و ر ځا ر ېد له - لنډه ئې دا چه د ډ ولۍ وخت راغی - «ورا» تیار ېده
دهلك اونجلۍ جوړی جامې راواخستې شوې اوښځی روانېدوته راپاڅېدې
چه دواده پنډو کی وتړل شونو هرچادناوی اوزوم کا لی او زړ و کی کتل
دبده مرغه مرغۍ هم دورور لونګۍ ته ګوتی وروړې - ښځو په دې کا ر
وترتله - دلته د مورهم ورته پام شونو یوه داسی مضبو طه څپېړ ئې و رته ور کړه
چه د ګوتو تغمې پکی جوړی شوې - مرغۍ اریانه ودریده - مورورته ووې چه
کونډه ښځه دواده جاموته لاس ور وړی - ته خوسپېره کونډه ئې تا ولی ګو تی
وروړ ی ؟

هغه مورچه مرغۍ ئې دځبګر په سپینو پیولو یه کړې وه او نازوله ئې - نن ورته له خوده
وو ته داسپیره پا ل هغه چیری زغملای شی - چه د یوې کونډ ی لاس د «ورا» په
وخت کی د وا ده په جامو ولګیږی - دا خبره بیاوغښتله شوله چه تاولی د «ورا»
جامو ته ګوتی وروړ ې ؟

په دې وخت کی د خدای فضل وچه د مرغۍ د پلار په زړه د رحم او به
تیر ی شوې او د مرغۍ مور ته ئې و و ې «خیر د ی د ا سی خطا له بنده
څخه کیږی» ګنی خد ا ی خبر د ی چه د مرغۍ به کوم ځای مات ؤ

د مرغۍ زړه ډ ک ؤ - ژ ړلای ئې هم نه شوای ځکه چه ژړا ترهغه لا

په همدې وخت کې بده وه - نو او ښکو ډ کې سترګې و کوټې ته ننوته - نوی جامې ئې وایستلې اوزړې ئې و اغوستلې لو پټه ئې په مخ وا چوله د خونې ګوټ کې څملا ستید له - « ورا » ولاړه - ډولۍ راغله - غال پول تېر شو - خو مرغۍ پرې خبره نه شوه نه ئې چا تپوس وکړ - چا یاده هم نه کړه - کونډه بد بخته د چا په یاد وی .

(٤)

غوټه نیمه شپه شوه - مرغۍ د « اد یزو » پرسړک باندی روانه ده - تیاره د ومرۍ ډیره ده چه د لاس ګوتی نه معلومیږی - خو مرغۍ نه د مار نه ېېریږی او نه هم د غله یا بل ځنا ور نه - د سیند غاړی ته ور سېده - پښه ئې و نیوله - بیا د سړک نه په ډډه لاړه او لیری د یوه کمره پرسر کښېنستله - په ټکری ئې مخ پټ کړ او د زړه له اخلاصه ئې وژړل - و روسته ئې په زړه کې د اډول ګیلې له خدای نه شروع کړې :

اې زما لویه خدایه ! زما د بد نصیبی خو اوس د مور په غېږ کې هم ځای نشته - زه اوس سپېره بلله کېږم - او بې برخې خسر ګنۍ که مې بیګانه خلک وو - د هغو نه خو ګیله نشته - مګر زه خو نن په خپل کور کې هم بد پاله او سپېره و بلله شوم - افسوس خدایه چه ښځې دی ولې پیدا کولې - خدایه تا خو داسې نه دی ویلی او نه ستا رسول داسې کړی دی - دا پښتانه خو ځانونه مسلمانان بولی د وی ولې داسې کوی ؟

د وی خو د اذانو نو سره سم جماعت له هم ورځی - لمونځونه هم کوی - زیری ئې شته - د دې ډول عبادتو نو سره په دې ظلم کولو هم مسلمانان بلل کیږی - د وی وائی چه موږ کې لوی لوی بزرګان

او عالمان هم شته مگر د لور اوخور سره چه کوم کا رونه کوی هغه خو په کفارو کی هم نشته ـ لو ر چه پیدا شی بده او سپیره وی چه وا ده شی بیا سپیره کیږی چه مړه شی هم سپیره وی ـ خدا یه ! ته په آخرت کی دوی ته جنت هم ور کوی ؟؟

یا په دنیا کی ښه ورځ هم یرې راولې ـ موږ خو هم ستا پیدا یوا و دبنی آدم له ذاته یو دمو ږ سره د ادو مره نا روا ولی کیږی ـ زه خو په دې خبره پوه شوم ـ ستا په دې دو مره لو یه دنیا کی خو ما د سر سیوری پیدا نه کړ ـ کوم کور کی چه ما ستر گی غړولی وې او وړه یکی لویه شوې وم هغه هم نن زما د پاره د وږخ شو ـ دوی زما و د وه کاله کونتون ته ونه کتل ـ او نه ئې د اوزړه ته تیره شوله چه د دې حال څرنگه ؤ اودی ـ نو ځکه وتانه التجا کوم چه ماله مرگ را کړې ځکه زما مرگ لویه پرده ده

که څه وایم هغه شرم ـ که څه کوم هغه شرم ـ که څه او رم هغه شرم ـ زما ناسته اوو لا ړه خوراک او چښا ک ټول شرم شول ـ نو زه غواړم چه دا د شرم بوج له ما نه واخلې او پټه شم (سلگی ... بیا سلگی) ـ اې سینده ! ته لو یه پرده ئې ـ ستالوی زړه دی ـ بنی آدم چه دچا دلوی زړه صفت کوی نو وائی «ستا زړه لکه د ریاب دومره دی» ته ددې خپل لوی زړه روی ومنه ـ ما ته غیږ خوره کړه ـ ته د خدای او رسول روی و منه ما ته پخپله لو یه غیږ کی ځای را کړه

ما پخپله لو یه غیږ کی ونیسه ـ زما دپاره پرده شه ! د خدای په دې دومره لو یه مځکه کی زما دپاره زما دارام ځا ی نه شته ـ تا ته ننوا تی راغلی یم

ـ هسی نه چه ته هم زما دخوابنې او خسر په شان ماورتې ـ ما مه رته!
زه دمسلمانانو پښتنو دلاسه په توره شپه تا له ننواتی را غلې یم ـ دوی
خواخوږی نه لری ـ دوی درحم زړونه نه لری ـ دوی دظلم نه هم دومری
خوند اخلی لکه د رحم نه چه ئې زړه سواندی انسانان اخلی ـ نو ته زما
ننواتې ومنه

دې نه پس دغرمب یواواز شو ـ دسیند زړه دمرغۍ په زاریو نرم شو او
دحال په ژبه ئې ورته وویې: زما امن لویه ده ـ زما غیږ تا ته خلاصه ده
ـ زه ستا نه خوابنې یم او نه خسر ـ زه نه ستا موریم نه هم یو انسان زه
تا ته په غیږ کی ځای در کوم بنه را غلې!! بنه!!

استاد راحت (زا خیلی)

پیر
په خدای منی

میارو ښاغلی علیه‌رحمه د پښتون دیو خاص قوم په‌باب کی فرمایلی دی :
«پیر په خدائی منی» یعنی کوم کار ونه چه خدای پاک کولای شی
د دوی په عقیده هغه کار پیرهم کولای شی- مگر زه یوه واقعه نن
تاسوته لیکم چه تاسی دا خبره نن هم ومنیء او په دې مو یقین راشی
چه نن هم هغه ډول خلك شته چه پیر په خدائی شه چه ترخدای زیات هم
گڼل کیږی (نعوذ بالله) زموږ د کلی یو تیکه دار په « زرمك » کی تیکه
اخستې وه د هغه سره د یوه‌مسود شه معامله وه - چیر ته په حساب کی
د دوار جگړه پیښه شوه - او د دوارو د فیصلې د پاره تحصیلدار منصف
مقرر کړ - منصف داډول فیصله وکړه چه یا دی تیکه دار قسم وخوری
او یا دی مسود خرچا چه قسم ویلو نه منع وکړه هغه به پروی تیکه دار ته معلومه وه
چه مسود په ناحقه په خدای هم قسم خوری او قرآن هم مگر په « پاونده ملا صاحب »
چه د هغوی پیر دی قسم نه خوری نو تیکه دار په دې تینگ شو چه په پاونده
ملا صاحب دی قسم وخوری- مسود د پروو چه په خدای قسم کوم په قران به قسم
وکړم مگر تیکه دار ونه منله - اخر مسود دې ته تیار شو چه تیکه دار دی
قسم وکړی نو زه به قسم پرې ږدم - د تیکه دار یو هو ښیار ملازم وهغه پټ
مسود ته وویل چه زه د تیکه دار نه سخت خفه یم او د هغه په گټه خوشاله
نه یم - زه ستا د فایدې د پاره یو چل ښیم تیکه دار په خدای قسم
کوی - په قرآن قسم خوری مگر ته دې د دوو سره قسم مه ورکوه او

ورته ووایه «په بابو حیدر صاحب» قسم وکړه ـ مسود ووې بابو حیدر څوک دی؟

هغه ووې بابو حیدر صاحب زموږ د وطن یولوی پیر دی - پس مسود په دې کلك شو چه تېکه دار دی په بابو حیدر صاحب قسم وخوری نو بس دعوی به پریږم ـ تېکه دار اول خو ځان دې خوا او هغه خوا کړ د دې د پاره چه د مسود شك پیدا نه شی مگر آخرئې و وې چه زه په حقه یم نو خود به قسم وکړم غرض دا چه قسم ئې وکړ او مقدمه ختمه شوله.

(ښاغلی چلونکی)

دانگریزی حکومت دانصاف

یوه نمونه

اکثر خلك خو پوه دی - مگر بعضی دحکومت داسی مدح خوانان او س هم شته چه انگریزانو ته «عادلان» او «رحمدلان» وائي - زه دداسی ورونو دستر گو پرانستلو دپاره یوه تازه واقعه لیکم :

تقریباً دوې میاشتی به کیږی چه یوه سرکاری لاری چه په هغی کی دپولیسو کپتان دسپایانو او یوه تحصیلدار سره سپاره وو - دې لاری دبالامانی سره زموږ یوه «پښتنه خور» په گاډی ووهله او فی الحاله مړه شوه وائی چه ددغی لاری دډرایور نه ډېرو خلقوا روېدلی دی چه ویل ئی: «ما خو لاری تېزه نه وهله مگر دپولیس کپتان او تحصلدار زه مجبوره کړم، او وې ویل، چه تیزه ئی بیایه - پر وامه کوه که څوك ترې لاندی شی - په دغه وخت کی چه لاری زموږ دغه مظلومه خور ووهله نو یو څو خدائی خدمتگاران راغله او لاری ئی ودروله او وئی ویل: صبرو کړیء چه د دی واقعی دتحقیق دپاره څو سرکاری افسران راشی هسی نه چه دوی و لاړ شی او صبا همدغه ملزمان ددی نه انکار و کړی او بل چا ته بیگناه څه تکلیف ورسېږی نو دا صفا ظاهره خبره وه - چه دخدائی خدمتگار انو دا کار څه جرم نه ؤ داسی خو همیشه موږ وینو چه چیرته لاری څوك ووهی نو لاری او دهغه سورلی تر هغه نه شی تلی - چه سرکاری افسر نه وی راغلی - مگر دلته خدائی خدمتکار ؤ او و دوی ته دخدائی خدمتگاری نوم دده لویه گناه وه - په دی وخت کی دپټی کمشنر ته تیلفون وشو - هغه راشی - او دراتلو سره ئی بې دپوښتنی چه اصله واقعه څه ده؟ څه مصیبت پېښ دی؟ په خدائی خدمتگار ستر گی راښکلی چه تاسی زما لاری ولی درولی ده؟

هغوی ورته په جواب کی وائي چه ته خودلاری غم اخستی ئی مگر دلته زموږ یوه بې قصوره خور داجل ښکار شوه لیکن دپټی کمشنر ته زمونږ د خور مرگ څه ښکاری؟ داخو څه فرنگی نه وه — چه دهغه زړه ته پرې څه صدمه رسیدلی وای. داخو یوه غریبه پښتنه وه نو که مړه شوه نو څه خیره ده

مختصر داچه ددغی مظلومی دمرگ الزام خو په هیچارا نه غی البته دا قدر «انصاف» وشو چه خدائی خدمتگار ته دقید سزا ور کړه شوه.

ما ته ښه یاددی چه یو ځل په مردان کی دیو خان د موټر دلاندی یوه بوډی او کڼه فرنگی راغلی او مړه شوی وه. نو هغه مقدمه ولوی جج (لوړی محکمی) ته وړاندی شوه او تر هغه ځایه ورسېده — او په آخر کی دډیر تکلیف او دزرگو نو روپو خرڅیدو نه علاوه دهغه خان څخه په زرگو نو روپی دهغی فرنگی دمرگ معاوضه واخسته، شوله — نو هله خان خلاص شو — حال داچه هغه فرنگی د کڼو الی په سبب سره مړه شوی وه او دلته خو دیوې پښتنې وینی بربادی توئی شوی وې او دهغی چه همدردی کوی نو هغو بی قصورو شریفانو ته دقید سزاور کولی شی

دادی دغلامی او آزادی فرق!!

(فخر افغان)

چرگه، چرگ او چرگوړی

دمقدمود فیصلو دپاره قانون وی لیکن په صوبه سرحد کښی چرگه هم دقانون یوه دفعه ده داڅه شی دی؟ دبډی خوړو یو جماعت د کفن کښو یوه تولی او دسړی خورو یوه کمپنی چه یوه خانه جنگی چه دحکومت قانون ئې پخپله فیصله کول دخپل انصاف شاهی نه بعیده بولی نو دهغی فیصله دویته وغورځوی یعنی پیشود غوښی پیره داره شی په قصو کښې وایی سړی خورو چه به سړی وموندهنو ویل به ئې «چه په اسمان موغوښتې خدای په ځمکه راکړی» راشه که ئې گوری ءدرو پوپیسو شرقهار شی له دواړو غاړو نه جیبو نه پرېگړه شی دخدای دطرفه ده چه څوك غریب وی او دچرگ چرگوړی یا دشربت طاقت ئې نه وی نو خان صاحب وغړمبېږی- منشی «په دفعه ... اوه لکه ....! قابلیت ئې داوی چه خطابه نه شی لیکلی او قانونی معلومات ئې داوی چه گناه څومره دفعه زیاتېږی نو سزائې هم سختېږی یعنی ددفعې په اعتبار زیات مثلاً زر، شل زره لك خو په دفعی وی دفیصلی په وخت کله دوړو بولو په بهانه لاړ شی چه دنورو نه په پټه لار او رو جوړ کړی پټه ئې هم دخزانې کار کوی لاسی ئې و روسته کچکول کړی وی- په دې سختی سره دډېرو پیسو خاوند مقدمه وگټی اکثر ناروا فیصلې کوی- دصوبه سرحد حکومت به اوس څرنگه ددې شرمندگی نه ځان وباسی؟

(ښاغلی چلونکی)

پاسپورت

دیو بادشاه رعیت چه دبل بادشاپه ملك کښې سفر کوی، نو هغه یو اجازت نامه (تکټ) اخلی چه هغې ته پاسپورت یا (راه داری) ویلی شی . او یو بادشاه چه دبل بادشاه در بار یا ملك ته خپل یو اعتباری سړی ولیږی نو هغه ته سفیر اوچه کوم ځای کښې هغه اوسی هغه ته سفارت خانه وایی پخوازمانه کښې ددې دواړو څیزونو باقاعده انتظام نه ؤ ، څومره چه دنیا ترقی کوله اودخلقو معلومات وضروریات زیاتیدل هومره به بادشاهانو او خلقو ته ددې ضرورت محسوسیده .

په دیارلسمه صدی کښې دتولو نه اول پاسپورت او دسفارتخانو طریقه په اتلی کښې رائجه شوه اول اول دسفیرانو مقرر تیابه صرف ددوو میاشتو دپاره وه بیاورو . وروئې میعاد زیاتیده دهیڅ قسم تحفی او دمالو داخستلو ورته اجازه نه وه ددې دپاره و خاص قوانین جوړ شوی وو ، چه چېرې سفیر چا نه څه وانه خلی او رعیت ته تکلیف ونه رسیږی عالم ، دیانت دار ، لائق ، تجربه کار ، همدرد او شریف سړی به سفیر مقرر یده ددې تولو مطلب صرف دبنې نوع انسان آرام مدنظر ؤ ، او دپاسپورټ نه مطلب صرف رعیت پروری او پیژندل او ددوی دحقوقو حفاظت ؤ ، ولی چه هسی نه چه یو سفیر له څوك دو که ورنه کړی ددې دپاره چه یو سړی دخپل ملك نه بل ملك ته ځی پاسپورت یا راه داری اخلی خلاصه مطلب دادی چه دا صرف درعیت دفایدی آرام او آسایش دپاره انتظام ؤ دا دسفارت خانو د سفیرانو او دپاسپورت یا دراه داری ابتدا وه لیکن که چېری نن ورځ مونږ ددی حالاتو او دواقعاتو نه ځان خبر کړو نو مونږ ته به معلومه شی چه

د اسفارت خانې نه دی بلکه شیطانت خانې دی د دې چارج همیشه دهغی خلقو
په لاس وی چه په شیطانې کښی ماهروی لنډه داچه دغریب او خوار رعیت دفایدی
په ځای دحکومت مفاد مدنظروی په ملکونو کښې چه داڅه تباهۍ او بربادی
او بدامنی وینی ءاو په قومونو کښی څه جګړې او فسادونه کېږی دی تولو کښی ددوی
لاس وی داخولا پرېږده په ناپوه قومونو کښې دقسم قسم نشو دخورلو کوششونه
هم کوی حاصل داچه دبنی نوع انسان دپاره موجوده کار وائی دفائدی
په ځای نقصان او درحمت په ځای زحمت وګرځیده او نن ورځ د دې نوم
(ډیپلومسیی) شوه، سیاحت او تجارت خو پرېږده تعلیم چه یو داسی څیز دی چه ددی
په زیاتی کښی به په دنیا کښی هېڅ قوم داسی نه وی چه کوششونه نه کوی
لیکن زمونږ مهذب حکومت دانه غواړی چه مونږ هغه تعلیم حاصل کړو
کوم چه مونږ ته سړیتوب وښیی او مونږ پرخپلو پښو ودروی مونږ
همېشه خپل قوم ته داچیغی وهوچه داڅومره مدرسی او کالجونه چه وینی
داصرف حکومت دخپل مطلب دپاره جوړ کړی دی ددې په ذریعه باندې خپل
دحکومت مشین لره قسم قسم پرزی او ارزانی پرزی تیاروی مطلب ئی زمونږ
سړیتوب نه دی او که چېرې داوی نو بیاولې چه مونږ دڅه تعلیم دپاره بل خوا
ځونو سرکار مومنع کوی زما ډېرورونه به داووایی چه دی څه وائې دتعلیم
نه می منع کوی ډېره ښه داعبثی خبرې هم واوری ء: تاسو ته
به معلومه وی چه زمونږ لویه مدرسه داتمانزو (قومی آزاده مدرسه) ده او د
حکومت داثرلاندی نه ده دې کال کښی زما یوزوی ددې مدرسې تعلیم
ختم که مادا اراده وکړه چه دی افغانستان ته بوزم او په
کابل کښی ئې په یو کالج کښی داخل کړم بل می داخیال هم ؤ، سبا

که چیرې ددې (آزادې مدرسی) نه نور هلکان هم پاس کېږی نو دهغوی دپاره
به هم په کابل کښی څه انتظام وکړم ولی چه زمونږ «پښتون» ورور دافغانستان
پاچا دجامع دخطبی په جواب کښی ډېره همدردی او محبت اردخپل خاص
امداد خیال ظاهر کړی ؤ زمونږ مهربان سرکار
تر اوسه پوری ماله هیڅ قسم با قاعده ځواب رانه کړ
دپټی کمشنرته می یوه چیټۍ هم لېږلې وه چه زما دزوی وخت او عمر ضائع
کېږی) لیکن هیڅ جواب ئې رانه که هان: یو څو ورځی شویدی چه یو سپایی
درې روپۍ راوړی ویل ئی چه دا واخله ماترې پوښتنه وکړه چه دا دڅه دپاره
دې وې چه دراه داری هغه فیس دی ماورته ووی چه څه تحریری حکم درسره شته
وی نه زه پونه شوم چه دی څه وائی او شپږ میاشتی پس ایله دومره خبره وشوه دا هغه
حکومت دی چه وائی او دعوه کوی چه مونږ دسړیتوب خورولو دپاره راغلی
یو او دا هغه دنن زمانی پاسپورټ (راه داری) ده چه معصومانه بچو ته دتعلیم شوق
پیدا کولو نیت ناکامه کوی

(فخر افغان)

2 - APR 19
Copy ____ 1957

لوړ خیالو نه اوژور فکرو نه

دا کتاب اوس تازه دپښتو ټولنی د کابل مجلې څانګی چاپ کړی دی .

ددې کتاب مضامین دننني نړۍ دپوهانو دآثارو غوره شوی برخه ده چه دښاغلی ګل پاچا الفت له خواغونډه شوې او د کتاب په صورت تاسی ته وړاندی کیږی « لوړ خیالو نه اوژور فکرونه » دپښتو ټولنی دپلورنځی څخه یوجلد په (۷) افغانۍ رانیولی شی .

(اداره)

کال

دیوه	بیه
په کابل کی	(٤٠) افغانۍ
په دننه هیواد کی	(٤٤) افغانۍ
زده کوونکوته په نیمه بیه	
په هند کی	(۱۲) کلداری
په باندی نیو هیوادونو کی .	(۳) ډالره

دا بیه دپښتو ټولنی دموسسې د جاری شمېر په (۷۱۸۷) لمبر دافغانستان بانك هروخت اخستلای شی

دولتی مطبعه